
دور

# تنقید





لیک: ولیم هنری هډسن

ترجمه: قلندر مومند

قلندر مومند
ریسرچ سیل

Ketabton.com
Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقونه دَ قلندر مومند ريسرچ سېل
په حق کښې محفوظ دي



| | |
|---|---|
| دَ کتاب نوم | تنقيد |
| ليکونکے | قلندر مومند |
| ځلورم ځل | 2008 |
| شمېر | 1000 |
| دَ چاپ ځائې | امن پرېس باچا خان مرکز پېښور |
| قيمت | 80/- |
| دَ موندلو درک | يونيورستي بک اېجنسي خېبر بازار پېښور |



Pukhto.Net پښتو



## انتساب

١. ګران دوست محمد خان کامل مومند
٢. محترم ډاکټر مظهر علي خان صاحب
٣. او دَ اولسي ادبي جرګې

## پــه نـــوم

چې زه ئې دَ تنقيد په نظرياتي او عملي معنو پوه کړے يم.

قلندر مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنقید

تلخیص او تنقیه

**قلندر مومند**

قلندر مومند ریسرچ سیل پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باعث تحریر آنکه

دَ بائرن دَ یو ډېر مشهور شعر ترجمه ده:

"سړے چې خپل نوم چاپ شوے ووینی نو خوشحالېږی کتاب بیا کتاب وی که هیڅ پکښې نه وی بیا هم."

ما چې دا مقاله لیکله نو خدائې ګواه دے چې دَ بائرن دا شعر مې ذهن کښې نه وه خکه چې یو خو دَ دې نه اګاهو هم زما تخلیقات چاپ شوی دی او ما خپل نوم ډېر خل چاپ شوے لیدلے دے او بله دا چې دَ دې مقالې دَ لیکلو مقصد هډو چاپ کول وو نه. دا خو هسې بسوروا کښې تیګه راغله.

دَ دې مقالې موضوع دَ تنقید مطالعه ده دا دَ ولیم هنری هډسن (متوفی: ۱۹۲۰ء) دَ مشهور او معروف کتاب "انټروډکشن ټو دَ سټډی اؤ لټریچر" دَ یو باب تلخیص دے. دا باب دَ پښتو دَ ایم اے په تعلیمی نصاب کښې شامل دے او دَ ایم اے شاګردان دَ دې کتاب په حقله ډېر مشکلات محسوسوی. په تېر مارچ کښې زما خنې شاګردانو زه په دې مجبور کړم چې هغوی ته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب سبقاً سبقاً وښیم. ما د هغوی د اسانی دپاره د دې کتاب څه نوټونه واخستل او هغوی ته مې پرې لکچرونه ورکړل. د لیکچرونو په دوران کښې ما دا محسوسه کړه چې د ځنو هغو ملګریو دپاره چې حالاتو ما نه لرې کړی دی دا نوټونه چاپ کړم او محض په دې غرض زه دې ته تیار شوم چې خپل نوم په چاپ کښې ووینم. دغو ملګریو کښې چې د ټولو نه اول کوم ملګرے زما ذهن ته راغلے وه هغه خوږ او ګران اجمل وه:

اے غائب از نظر که شدی هم نشین دل
می بینمت عیان و دعا می فرستمت

هډسن په خپله مقاله کښې د مغربی ادب ځنو مشهورو لیکونکیو لیکونو او نظریو ته اشارې کړې وې. زما اراده دا وه چې دې مقالې سره یو "تعلیقات نُما" ټُندې شے ولیکم چې دغه مشکلات حل شی خو د وخت د کمی په وجه زه دې ته تیار نه شوم ولې د دغه مشکل د حل دپاره ما دا وکړه چې د مقالې په متن کښې چې مختصراً څومره کېدے شوه ما څه لږ ټُندې وضاحت وکړو او زما یقین دے چې که لُستونکی زما مجبوری د ذهن مخکښې راولی نو ما به د دې دومره کوتاهی دپاره معاف کړی. ما دا اراده بالکل پرینښې نه ده که ما ته هر کله فرصت ګُټو له راغلو نو زه به دا تعلیقات خامخا لیکم او که خدائې ته منظوره وه هغه به د دې مقالې د تکملې په



حېث د دې دویم ایډیشن سره شاملوم. وَ مَا توفیقی الا بالله.

ګرانو لُستونکیو به دا محسوس کړے وی چې دا مقاله دومره زر فهم ته راتلونکې نه ده او د هډسن د پوره عبارت د تلخیص په وجه شاید چې پکښې زما د طرفه هم اشکال پیدا شوے وی خو حقیقت دا دے چې د دې نه زیاته اسانی نه ما خوښوله او نه مې کولے شوه.

هډسن دا مقاله د دې صدی په سر کښې ختمه کړې وه نو ځکه د تنقید جدید ترینې نظریې چې د هغه د مقالې او د هغه د وفات نه پس ته خورې شوې دی هغه نه پاتې شوی دی مثلاً د تنقید په حقله مارکسی لیننی نظریه Marxistleninist theory یا د ژان پال سارتر Existentialism اوسنی نظریه چې د ادب او تنقید سره څومره تعلق لری بلکې د ټی ایس ایلیټ د روایت په نظریه هم پکښې څه نه دی وئیلی شوی. دغسې به ښاغلیو لُستونکیو ته دا هم محسوسېږی چې دې مقاله کښې د تنقید د ابتداء نه تر ۱۹۱۰ء پورې د تنقید د مختلفو نظریو بحث هم نه دے شوے. د دې وجه دا ده چې د ښاغلی هډسن مقصد دا نه وه چې د تنقید تاریخ بیان کړی هغه صرف د مبتدیانو (ښاغلیو لُستونکیو ته به احساس وی چې هډسن د مبتدی نه څومره لویه مطالبه کړې ده) د فائدې دپاره د تنقید د مطالعې اُصول بیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي دي او بس.

نو ځکه ما هم نه دغه بحثونه چېړلي دي او نه مې ورته اشاره کړې ده او که چا مشکل پسند لُستونکي ته پکښې په دې وجه څه کمے ښکاري نو زه د اول نه د دغه کمي اعتراف کوم.

د دې مقالې د لُستو نه مخکښې او پس چې زه د چا د تبحر علمي نه متاثره شوے يم او په دې سلسله کښې چې د کومو کومو استاذانو د علم نه ما فائده اخستې ده زه د هغو مننه کوم. دې استاذانو کښې ښاغلے دوست محمد خان کامل مومند، ډاکټر مظهر علي خان، پېغله مارګرېټ ايس هاربوټل، پروفېسر راول شکوه ملک او پروفېسر عزيز الصمد شامل دي.

قلندر مومند
۹ اپريل ۱۹۶۳ء



بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلي علی رسوله الکريم و علیٰ اتباعهٖ و اهل بيتهٖ اجمعين.

## تنقيد څه ته وائی:

تنقيد محاکمې ته وائی. او په عامو خبرو اترو او ادبي اصطلاح کښې ادبي نقاد هغه چاته وائي چې هغه د يو مخصوص خصوصيت او مشق له وجې ادبي تخليقات څېړوي. د دغو تخليقاتو د حُسن او قبح اندازه لګوي او بيا پرې يوه فېصله کوي. خو تنقيدي ادب کښې هغه ادب هم شامل دے چې پکښې څه "فېصله" نه وي او په دې طريقه د تنقيدي ادب لاندې هغه ټول ادب راځي چې د ادب متعلق ليکلے شوے وي. که د دغه ليک مقصد تجزيه وي که محاکمه يا شرح او که دغه ټول څيزونه پکښې مشترک وي.

شاعري، ډرامه، ناول او د ادب نور اصناف براه

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



راست ژوند سره تعلق لری. د تنقید تعلق دغه شاعری، ډرامې، ناول او پخپله تنقید سره وی. که مونږ د تخلیقی ادب دا تعریف وکړو چې دا ادب د ادب د مختلفو اصنافو په ذریعه د ژوند ترجمانی او شرح کوی نو تنقیدی ادب د دغه تخلیقی ادب او د دې د اصنافو ترجمان او شارح دے.

## په تنقید اعتراض:

مګر په تنقید باندې کېدونکیو اعتراضونو کښې د ټولو نه لوئے اعتراض دا دے چې که زمونږ ادبی مطالعه کښې زمونږ د ټولو نه لوئے فرض دا وی چې مونږ دې د یو مصنف په مافی الضمیر خان پوه کړو نو بیا په کښې د نقاد د واسطې څه ضرورت دے؟ مونږ که د شیکسپئیر یا دانتے په حقله خان پوهول غواړو نو په خانې د دې چې د دې لیکونکیو تخلیقات پخپله ولولو مونږ ولې د نورو لستونکیو په معلوماتو تکیه وکړو او د کتاب لستلو په خانې د کتابونو متعلق کتابونه BOOK ABOUT BOOK ولې ولولو. زمونږ ژوند ډېر لنډ تنګ دے او مونږ د وخت دومره فضول خرچی نه شو کولے. بیا په نننی زمانه کښې د حاشیو شرحو او نوټونو صنعت دومره ترقی کړې ده چې زمونږ لائبریری د دغه صنعت د لاسه په اصلی کتابونو تنګې شوے دی او بیا د دغه کتابونو په حقله کتابونه او بیا د هغو په حقله کتابونه لیکلی کېږی چې اصلی ادب



کم او تشریحی ادب زیات شوے دے. نه یواځې دا بلکې اوس علم مونږ ته د اصلی ذرائعو نه نه حاصلېږی، بلکې دغه علم مونږ په سیکنډ هېنډ یا تهرډ هېنډ حېثیت حاصلوؤ. یو نقاد په ملټن تنقید وکړی په دغه تنقید یو بل نقاد خامه فرسائی وکړی او مونږ د ملټن په شاعری او پیغام د خان پوهولو دپاره خامخا دا تنقیدونه لولو. د ملټن په حقله دغه نظریه د یو شیرر یا د یو میتهیو آرنلډ کېدے شی. دې کښې اوس خطره دا ده چې مونږ به د شیرر او آرنلډ په مطالعه کښې دومره بوخت شو چې رانه به ملټن پاتې شی. او دا خو ظاهره خبره ده چې په یو کتاب باندې د لیکلی شوی تنقید مطالعه د دغه کتاب د مطالعې نه زیاته سودمنده کېدے نه شی. او دې کښې غټ نقصان دا وی، چې مونږ به د ادب او ادبی شخصیتونو په حقله خپله رائې نه بلکې د یو نقاد او یا د بل نقاد رائې لرو او دا به ډېره سطحی وی.

## د تنقید ضرورت:

په موجوده وخت کښې دا اعتراض وزنی خو دے. خو د دې دا مطلب نه دے چې مونږ دې د تنقید د فائدو نه منکر شو.

وړومبے خو دا خبره یاد ساتل پکار دی چې تخلیقی ادب او تنقیدی ادب کښې د یو مطالعه کونکی د نقطهٔ نظر نه څه دومره لوئے فرق نشته مونږ د ادب دا تعریف

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوؤ چې ادب د هغو څېزونو بيان وي چې ژوند کښې پکښې مونږ ډېره دلچسپي اخلو. اوس په ژوند کښې له ټولو نه زيات دلچسپ څيز انفرادي شخصيت دے. او نقاد چې په يو ادبي تخليق تنقيد کوي نو اديب د هغه شخصيت مطالعه او تجزيه هم کوي چې ده ئې په خپل تخليق کښې اظهار کړے وي. نو په دې دليل تنقيد هم دَ ژوند سره هغه علاقه لري کومه چې شاعري او دَ ادب نور اصناف لري او داسې تنقيدي ادب هم دَ تخليقي ادب يو قسم وګرځي.

په دې حال کښې دا مسئله اوس صرف دَ تنقيد دَ صحيح او غلط استعمال مسئله پاتې شي. او دا مسئله څه دومره ګرانه مسئله نه ده. مونږ دَ خپلې تجربې نه هم دا مسئله زده کولے شو چې تنقيدي مطالعه کوم وخت سودمنده او کوم وخت مُضره ده؟

تنقيدي مطالعه هغه وخت ضرر رسانه شي چې مونږه دَ يو لوئي ليکونکي پحقله دَ يو بل لُستونکي رائې باندې تکيه وکړو او کتاب ته دَ براه راست رسايي په ځائې دَ دغه نقاد رائې خپله کړو. دا زمانه دَ خُلاصو زمانه ده او دَ علم دَ نورو څانګو غُندې اوس دا مصيبت ادب ته هم راغلے دے او دَ سړي زړه کله کله دا غواړي چې دَ ځنو هغو ليکونکيو په حقله چې نه خو ئې مونږ سره دَ لُستلو دپاره وخت شته او نه همت، دَ دغو خُلاصو په رائې



اعتبار وکړو او دَ نورو خلقو په شان مونږ هم خلق په دې مرعوب کړو چې ګنې مونږ دغه ليکونکي لُستلي دي. دَ دغه غرض دپاره مونږ دَ هومر دَ اوډيسي په ځائې دَ دې کتابونو خُلاصه لُستل غوره ګڼو. اوس دا هم نه ده پکار چې سړے دې دَ دې مخالفت وکړي چې دا خُلاصه لُستل نه دي پکار. ځکه چې دا ناممکنه ده چې سړے دې دَ ټولې دنيا دَ لُستلو قابل کتابونه پخپله لُولي. که خبره دې ته راشي چې آيا که اوډيسي مونږ پخپله نه شو لُستلے نو دَ هغې خُلاصه دې هم نه لُولُو. نو زه دَ دې په حق کښې نه يم ځکه چې زما په خيال دَ دې شهکار متعلق لږ علم دَ دې نظم نه دَ مطلق ناواقفيت په مقابله کښې غوره دے ژوند ډېر مختصر دے او مونږ په ډېر محنت هم دَ دنيا ټول ادب نه شو لُستلے. نو ځکه چې څومره لُستلے شُو دومره غنيمت دے. او که دا لُستل دَ بل چا په واسطه وي نو مونږ دې ترې مخ صرف په دې وجه نه اړوؤ چې دا دَ بل رائې ده. او دا کېدے شي چې دا مطالعه مونږ دې ته ولمسوي چې دَ دغه ليکونکي پخپله هم مطالعه وکړو. او يا دَ دې مطالعې نه په راتلونکي وخت کښې څه ادبي فائده واخلو. په دې سلسله کښې دَ والتير مثال زمونږه ښه رهنمائي کولے شي. والتير دَ اتلسمې صدۍ دَ عظيم ترينو ليکونکيو نه يو وه او ځکه دې ذاتي طور سره هم او دَ ادب تاريخ کښې دَ ده مقام په وجه هم ډېر اهميت لري. دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې لیکونکی په حقله به ځنې سوالونه یو خل خامخا زمونږ ذهن کښې پیدا کیږی. د هغه مقصد څه وه؟ د هغه طریق کار او کارنامې څه وے؟ د هغه څومره لیکونه تاریخی اعتبار سره او څومره ادبی اعتبار سره اهمیت لری؟ د داسې سوالونو که یو عام خواب مونږ بیاموموو نو دا هم غنیمت دے. ځکه چې د والتیر د تصانیفو شمار د ٦٢٠ نه زیاتیږی او دا دیارلس شلې کتابونه هیڅوک هم نه شی لُستلے نو اوس که لارډ مورلے راپاسی او مونږ ته د څلورو سوؤ مخونو په کتاب کښې د والتیر په حقله د هغه ټول معلومات راکړی نو مونږ له پکار دی چې په شکریه ئې قبول کړو. د دې نه علاوه هره زمانه کښې ځنې واړه لیکونکی هم وی چې ښه لیکونه ئې کړی وی. اوس که څوک نقاد د دغو وړو لیکونکیو ښه لیکونه راټول کړی نو مونږ له پکار دی چې ترې فائده واخلو ځکه چې د دغه لیکونکیو ټول لیکونه لُستل نه خو مفید دی او نه ممکن.

مونږ له که یو طرفته د مصنفینو په حقله راتې ته مبالغه آمېز اهمیت نه دی ورکول پکار نو بل طرف ته د دې اُصولو نه هم انکار نه دی کول پکار چې زمونږ اصلی غرض د ادب مطالعه ده نه چې د دغه ادب شرح یا په دغه ادب د تنقید او تبصرې مطالعه. د ادبی مطالعې بنیادی غرض دا وی چې د مطالعه کونکی او د مصنف یا ادیب تر مېنځه ذاتی باهمی تعلق قائم شی نو ځکه د دې



غرض دپاره د نقاد د واسطې او وسیلې څه خاص ضرورت نه پېښیږی. مونږ د یو لوئی کتاب پوره خوبی او حیات آموز محرکات هله محسوسولے شو چې دغه کتاب سره براه راست رابطه پیدا کړو. مفسر او مشرح دا خوبی او محرکات په ډېره وړه پیمانه مونږ ته رسولے شی. زما یو امریکنی دوست چې د ادب ډېر نامتو اُستاذ دے، ما ته یو خل د خپل یو شاګرد قصه کوله. هغه ما ته وئیل چې زما شاګرد د شیکسپیئر په ډرامه "ټمن او ایتهنز" باندې د تحقیق کولو په غرض ما نه پُښتنه وکړه چې دې سلسله کښې زه کوم کتاب ولُولم. او زما خواب ورته دا وه چې په "ټمن او ایتهنز" باندې د ځان پوهولو دپاره د "ټمن او ایتهنز" نه غوره کتاب نشته. زه دا حقیقت یو ځل بیا سر دوباره کوم چې د یو کتاب د شرح یا د تبصرې مطالعه د هغه کتاب د مطالعې نعم البدل هیڅرې نه شی کېدے. د دغه کتاب په مطالعه کښې چې مونږ کوم زیار او مېښود کوؤ هغه د ادبی کلچر د ذریعې په حېثیت د دغه کتاب په حقله د بل چا نه د حاصل کړی علم په نسبت په څو چنده زیات قدر او قیمت لری.

په تنقیدی ادب لُستلو کښې د یو بل نقصان هم ډېر لوئے احتمال شته. که مونږ ځان شرحو او تبصرو لُستلو ته وقف کړو نو مونږ ځان انفعالی طور سره د یو بل سړی رائې قبلولو او د هغه د فېصلو منلو ته وسپاروو، دا ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویه خطره ده او چې څومره یو نقاد لوئې وی دومره دا خطره هم لویه وی. لوئې نقاد هغه ته وائی چې امتیازی علم پوهه او زوروَر شخصیت لری او داسې نقاد نه مونږ ډېر زر متاثره کېږو. د ده شعور فهم او ادراک، ته مونږ خپل شعور فهم او ادراک ډېر زر ایل کړو. نتیجه ئې دا شی چې مونږ دَ کتاب مطالعه دَ ده په سترګو شروع کړو. مونږ په کتاب کښې هم هغه څه وینو کوم چې دے وینی. چې چرته دے غلطی کوی. هلته مونږ هم ورسره خان رضاکارانه طور باندې غلطوؤ. چې کوم څیز د ده دَ نظر نه پاتې شی هغه څیز مونږ هم نه وینو او زمونږ مطالعه او ذهن دَ ده دَ مطالعې او ذهن غلامی قبوله کړی. په دې طریقه دې دَ کتاب او زمونږ ترمېنځه دَ ترجمان حېثیت نه بلکه دَ دېوال حېثیت اختیار کړی. دَ رهنمایی په ځائې دے زمونږ لار ونیسی او زمونږ ذهن په خپله کار کول پرېږدی.

لکه څنګه چې مخکښې ووئیلے شُو دَ تنقید دَ غلط استعمال نه دَ ډېرو سنګینو نتیجو راپېدا کېدو احتمال شته. خو دَ دې دا مطلب نه دے چې ادبی مطالعه کښې دې مونږ دَ تنقید دَ اهمیت نه سترګې پټې کړو. دَ دې مطلب خو به یا دا وی چې مونږ دَ خپل خان نه زیات هوښیار خلق نه تسلیموؤ او یا دا چې دَ نورو کسانو ژوره تجربه او برتر علمی قابلیت او هوښیارتیا هډو زمونږ



پکارېدې نه شی.

دَ تنقید لوئې فرض دا وی چې زمونږ ذهن روښانه کړی زمونږ علم زیات کړی او مونږ کښې دَ علم حاصلولو تلوسه پېدا کړی. که چرې مونږ دا منو چې یو لوئې شاعر مونږ ته دَ خپلو تخلیقاتو په ذریعه دَ ژوند مقصد ښیی او مونږ خان سره په دغه معنیٰ کښې شریکوی. نو مونږ له دا هم منل پکار دی چې یو لوئې نقاد هم مونږ دَ ادب په معنٰی پوهوی او خان سره مو په دغه معنٰی کښې یو کوی. ریښتینې نقاد هغه علم لری چې دَ هغه دَ کار دپاره ضروری دے او دَ نقاد دغه علم زمونږ دَ علم نه زیات ژور، زیات پوخ او ښکه زیات دَ قدر قابل دے. دَ دې نه علاوه هغه دَ بصیرت پوهې او شعور خاصه ملکه لری. نو دا به یقیناً ډېره لویه خورده ګیری وی که مونږ دا ووائیو چې داسې سړے به یوه ادبی فنپاره کښې زمونږ نه زیات څه نه وینی او دا به ډېر لوئې حماقت وی چې مونږ دا فرض کړو چې دَ ده په مدد به مونږ په دغه فنپاره کښې زیاته ښکلا، اهمیت او معنٰی نه مومو. نقاد مونږ ته همېشه دَ نظر یوه نوې زاویه ښیی او زمونږ هغه تاثرات چې مونږ محسوس کړی خو وی خو ظاهرولے ئې نه شُو، څرګندوی. هغه کله زمونږ رهنما وی راته لار ښیی او کله زمونږ دَ لارې ملګرے وی او راته په لاره هغه څیزونه ښیی چې زمونږ نظر پرې ښوئیدلے وی. په دې طریقه هغه مونږ ته دا رازده

(c) ketabton.com: The Digital Library





کوی چې مونږ دې په زیات ژور نظر او فکر او بهتر قوت تنقید دَ کتاب مطالعه وکړو. نقاد هغه وخت زمونږ نور هم زیات پکارېږی چې دے زمونږ فکر او نظریو سره اختلاف کوی او هغه دَ ایمرسن خبره چې مونږ ته محض "هدایات" نه بلکې "اشتعال" هم راکوی. که مونږ دَ هغه مطالعه په هغه نظر کوؤ په کوم چې پکار ده، او زمونږ ذهن حاضر او بېدار وی نو هغه سره اختلاف یا اتفاق دومره لوئے فرق نه پېدا کوی که مونږ هغه سره متفق یُو او که ورسره اختلاف کوؤ، په هر صورت به مونږ دَ هغه دَ بصیرت او قوت نه فائده اخلو.

## نُکتې

ا. تنقید څه ته وائی. دَ تنقید عام تعریف.

ب. په تنقید عام اعتراضونه. دَ نقاد دَ واسطې عدم ضرورت. والټېر او مورلے.

ج. تنقید هم یو تخلیقی عمل دے او دَ تخلیقی ادب سره مساوی حېثیت لری.

د. دَ تنقید غلط استعمال. په پټو سترګو دَ نقاد هره خبره منل.

ه. دَ تنقید صحیح استعمال. تنقید زمونږ رهنمائی کوی.



## ۲

دَ پورتنی بحث نه باید چې ښکاره وی چې دَ تنقید دوه مقصدونه، تشریح او محاکمه وی. تر اوسه پورې دا دواړه مقصدونه نقادانو غبرګ او په یو ځائې استعمال کړی دی. دَ نقادانو اکثریت دا منی چې دَ تنقید اصلی غرض دَ یوې ادبی فن پارې متعلق فېصله کول دی. خو دغه نقادانو دَ دغه غرض دپاره تشریح نه تل تر تله دَ یوې ذریعې کار اخستے دے. ولې دَ څه مودې راسې دَ نقادانو یوې ډلې دا نظریه شروع کړې ده چې دَ تنقید صرف یو مقصد دے او هغه تشریح دے. دا ډله تشریح او محاکمه نه صرف بیل بیل بلکه متضاد څیزونه ګڼی. دَ دوئ دَ خیال مطابق دَ نقاد کار محض او محض دا دے چې دَ یوې ادبی فن پارې تشریح او وضاحت وکړی او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کہ چرې مونږ د یو ساعت دپاره دَ تنقید دا تعریف ومنو نو سوال راپېدا کېږی چې دَ یو مشرح په حېثیت دَ نقاد فرائض څه وی. او کہ مونږ په دې لږ غور وکړو نو راته به ثابته شی چې په دې حېثیت کښې هم دَ نقاد کار لوئے او ګران دے. هغه به ځان دَ هغه کتاب په مغز پوهوی، چې دې پرې تنقید کوی. هغه به دَ دې کتاب دَ ښکلا تجزیه کوی دَ کتاب دَ عارضی او دائمی اهمیت تعین به کوی دَ هغې دَ معنٰی تجزیه او ترتیب به کوی. دَ هغو فنی اخلاقی اُصولو وضاحت به کوی، چې دَ کتاب لیکلو په وخت کښې ئې مصنف شعوری یا غېر شعوری طور سره خیال ساتلے دے. دے به دَ کتاب دَ اشارو وضاحت کوی او هغه څه به څرګندوی چې مصنف ئې په کنایه کښې بیان کړے وی. هغه به دَ کتاب دَ مختلفو حصو باهمی تعلق او بیا دَ دې حصو ټول کتاب سره تعلق بیانوی. هغه به دَ کتاب خوارۀ وارۀ عناصر راغُنډوی او خُلاصه به ئې وباسی او بیا به دَ کتاب په خصوصیاتو بحث کوی. په دې طریقه به هغه دَ کتاب تشریح او وضاحت کوی. او مونږ به دَ کتاب په ماهیت مافیت روح او فن پوهوی او چې دا وکړی نو کتاب به دَ خپلې درجې ثابتولو دپاره ازاد پرېږدی. دَ والټر پیټر دَ وېنا مطابق دَ نقاد دغه درې فرائض دی چې دَ شاعر یا مصور خوبی محسوس کړی. دَ دې خوبیو تجزیه وکړی او بیا ئې



وضاحت وکړی.

د دې غرض دپاره به دَ هر یو نقاد خپل مخصوص طریق کار وی. هغه به یا خو خپله ټوله توجه په دغه کتاب مرکوزوی او یا به دَ دغه مصنف دَ نورو کتابونو په رڼا کښې دَ دغه کتاب وضاحت کوی او یا به دَ تقابلی مطالعې په رڼا کښې دَ کتاب تشریح کوی. هغه دا هم کولے شی چې یو قدم وړاندې لاړ شی او دَ کتاب تاریخی تشریح شروع کړی، خو کہ دَ هغه طریق کار هر څه وی دَ هغه مقصد به تل دا وی چې هغه ځان هم په کتاب پوه کړی او مونږ هم. هغه به هیچرې هم دَ خپل ذاتی ذوق یا دَ نورو نقادانو دَ رائې په رڼا کښې په دغه کتاب څه حکم نه لګوی.

دَ مشرح په حېثیت دَ نقاد دَ مقصدونو او طریقو مفصل بیان ښاغلی پروفېسر مولټن په خپله یوه مقاله کښې کړے دے دویٔ وائی چې نن سبا دَ تنقید مقصد دا ګڼلے شوے دے چې نقادان دې دَ ادبی تخلیقاتو معقولیت تلی او دَ دغې تخلیقاتو دَ تقابلی اهمیت اندازه دې لګوی. لارډ میکالے چې دَ هغه نه زیات په دې مسئله هیڅوک هم دَ وئیلو حق نه لری (دا زما په خیال کښې دَ لارډ میکالے دَ تنقیدی صلاحیتونو پحقله ډېره لویه مبالغه ده) خو نقاد یو باچا ګڼی، چې لیکونکیو لره په خپل دربار کښې دَ درجو مطابق دَ ناستې ځایونه ورکوی او حقیقت دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے چې نن سبا عام خيال هډو دا دے چې د تنقيد محض هم دا کار دے چې د ذوق د اُصولو مطابق د ليکونکيو او ليکونو حُسن و قبح ښکاره کړی. او د ذوق د دې اُصولو په حقله دا خبره منلے شی چې ګنی دا اُصول يا خو هر چا قبول کړی دی او يا د ادبی ښکلا په بنيادی تصوراتو د غور و فکر په نتيجه کښې پيدا شوی دی. د دې په مقابله کښې ښاغلی پروفيسر مولټن د تنقيد څنې نوی اُصول جوړ کړی دی چې دې ورته "استقرائی تنقيد" وائی. د مولټن د نظريې نوم هډو دا ظاهروی چې د دوئ په دې نوې نظريه د جديد سائنس څومره ژور اثر دے د دوئ د خپلې وينا مطابق د دې نوې نظريې مقصد دا دے چې "ادبی بحث د استقرائی علمونو دائرې ته راشی" داسې تنقيد ته د ادب يو قسم نه بلکې د سائنس يو قسم وئيل پکار دی. نو څکه هغوی د نقاد نه دا مطالبه کوی چې هغه دې د سائنسدان غُندې صحيح او غير جانبدار وی. استقرائی نقاد به لکه د نورو سائنسی محققانو غُندې د "ادبی شهود LITRARY PHENOMENA لکه څنګه چې هغوی ته ښکاره مشاهده کوی او هغه قوانين او اُصول به راجمع کوی او ترتيب به ورکوی د کومو په وجه چې دغه ادبی شهود رنګ او شکل بدلوی او تاثر پيدا کوی. داسې ادبی نقاد د ادبی تخليقاتو نه بغير د بل چا فيصله يا قانون نه منی".

د مولټن د دې نظريې مطابق دا نوے استقرائی



سکول د زور حکمی سکول نه په درېو خبرو کښې مختلف دے. وړومبے خو دا چې حکمی تنقيد په ادبی تخليقاتو کښې د درجه بندی قائل دے او درجه بندی د سائنس برخلاف ده. د سائنسدان په حېثيت د استقرائی نقاد کار په درجو کښې د فرق متعلق نه دے هغه صرف په اقسامو کښې فرق تسليموی. هغه ته ادبی طريقې ښې بدې نه ښکاری. مثلاً هغه به د شيکسپئير او بن جانسن مقابله نه کوی. بلکه دے به په دغو دواړو ليکونکيو کښې صرف هغه فرق ګڼی کوم چې په ګُل او د مرچو ونه کښې وی. دا فرق د درجې نه بلکې د قسم دے. د ګُل بوټے خان ته خپل خصوصيات لری او د مرچو بوټے خپل خواص. دا فرق ترجيح نه پيدا کوی څکه چې دواړو کښې د مقابلې دپاره څه مشترک شے نشته. دغه شان يو ليکونکے د بل ليکونکی نه جدا وی او دا فرقونه کتل او راغُنډول پکار دی. خو د دوئ په بنياد د ليکونکيو درجې جوړول او يو په بل حکم کول نه دی پکار.

په حکمی تنقيد او استقرائی تنقيد کښې بل فرق دا دے چې د حکمی تنقيد بنياد په دې مفروضه دے چې دا نام نهاد ادبی قوانين د اخلاقو يا د رياستی قوانينو په شان د بره نه نافذ کېږی. او فنکار د ديو په منلو داسې پړ دے لکه چې يو انسان د اخلاقو يا رياستی قوانينو په منلو پړ وی. استقرائی نقاد د داسې قوانينو د وجود نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منکر دے. د هغۀ پۀ خیال د ادب قوانین هم داسې دی لکه چې د سائنسدان دپاره دَ فطرت قوانین. چې دَ بهر نه نۀ وی نافذ شوی بلکې حقیقت دَ قوانینو شکل اختیار کړے وی. دَ فطرت قوانین څۀ وی خو دَ هغه نظام یو تعمیمی بیان دے چې انسانی نظر او فکر ئې مشاهده کوی. هم دغسې ادبی قوانین هم ګڼل پکار دی. دا ادبی قوانین هم دَ هغه شهود اظهار کوی کوم چې دے نه هغه کوم چې پکار دے. پۀ دې شان دَ شیکسپئیر دَ ډرامې قوانین پۀ شیکسپئیر دَ بهر نه منلی شوی قانونونه نۀ وو چې دَ هغو پۀ منلو دې شیکسپئیر مجبور کړے شی. بلکې دا هغه قانونونه وو چې دَ شیکسپئیر دَ ډرامائی تخلیقاتو دَ تجزیې نه راوکښلی شوی وو. او مونږ چې دا وائُو چې شیکسپئیر دَ دې قانون یا دَ هغه قانون اطاعت کوی نو مونږ اطاعت دَ استعارې پۀ معنو کښې داسې استعمالوُ لکه چې مونږ وائُو چې ستوری دَ کشش دَ قانون اطاعت کوی. نو ځکه دَ نقاد کار دا نۀ دے چې ووائی چې شیکسپئیر دَ فلانی مجرد قانون اطاعت کوی یا داسې قواعدو لاندې خان ګڼی چې هغه بالکل ازادانه طور باندې وضع شوی دی بلکې دَ نقاد کار محض دا دے چې هغه دَ شیکسپئیر دَ تخلیقاتو براه راست تجزیه وکړی او هغه اُصول تزې راوباسی (او بیا دوئ لره یو عام شکل ورکړی) دَ کومو لاندې چې دغه تخلیقات شوی دی.



دا څیز دَ استقرائی او حکمی تنقید تر مېنځه یو بل فرق پېدا کړی. د حکمی تنقید بنیاد پۀ دې مفروضه دے چې د ادبی تنقید څنې "مقرر معیارونه" دی چې ادبُ پرې خیرلے شی. مختلفو وختونو کښې مختلفو نقادانو دې معیارونو کښې ډېر ترمیمونه کړی دی ولې بیا هم دَ معیارونو دَ موجودګی نه انکار نۀ شی کېدے خو استقرائی تنقید دَ مقررو معیارونو وجود نۀ تسلیموی. نۀ صرف دا بلکې دَ استقرائی نقادانو خیال دے چې د داسې معیارونو وجود محال دے. ټول شهود دَ یو ارتقاء نه تېرېږی او دغسې ادب هم دَ ارتقاء نتیجه ده. دَ ادب تاریخ دَ تبدیلیو او ترمیمونو یوه نۀ ختمېدونکې سلسله ده او ځکه کۀ څوک دَ دائمی اُصولو تلاش کوی نو دا تلاش به ئې خامخا ناکام وی ځکه چې د دې مطلب دا دے چې ګڼی مونږ "تکمیل" منو. او حقیقت دا دے چې یو څیز کښې هم تکمیل موندل ناممکن دی.

د دې بحث نتیجه دا شوه چې استقرائی تنقید به ادب پۀ تحقیقی انداز کښې خیری. او دَ فن اُصول او قواعد به دَ فنکارانو دَ عمل نه راوباسی. او ادب به دَ فطرت دَ نورو څیزونو غُندې دَ مسلسلې ارتقاء لاندې ګڼی چې دَ سکول او دَ مصنف پۀ بدلېدو به بدلېږی خو دا فرق به صرف دَ قسم فرق وی او پۀ هر یو به دَ پوهېدو دپاره دا ضروری وی چې پۀ هغه نظر دې وخیرلے شی چې دَ دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم دپاره پکار دے او د بهر نه پکښې څه مداخلت ونه کړے شي.

که مونږ د تنقید دا فرائض ومنو نو د دې مطلب دا شو چې د تنقید نه خو د يو ادب پارې د خوبۍ سره څه کار شته او نه هغه ذاتي احساس سره چې مونږ نې د دغه ادب پارې متعلق لرو. نقاد به لکه د سائنسدان محض او محض تحقيق کوی او د انفرادی ذوق، د مطلق او تقابلي ښائست او خوبيو به هڅو پروا نه لری. هغه د ټيسن په الفاظو کښې "يو داسې عالم نباتات دے چې د هغه موضوع د نباتاتی ژوند شهود نه بلکې ادبی شهود دے".

استقرائی تنقيد لکه چې تر اوسه پرې بحث وشو مونږ صرف دې نتيجې ته راولی چې د هر مصنف د تخليق قانون هم دغه تخليق کښې کتل پکار دی. او د دې کُلې نه دا مزيد نتيجه راپيدا شی چې د داسې قانون نفاذ د بل مصنف په تصنيف کول ناممکن وی. او ځکه دا قانون خو نه د فيصلې دپاره معيار ګرځيدلے شی او نه زمونږ رهنمائی کولے شی. دا نتيجه يوه مسئله پيدا کوی چې مونږ به نې جائزه واخلو. خو فی الحال مونږ د تنقيد د يوې داسې نظريې تصور هم کولے شو چې هغه خو نه د حکمی تنقيد حمايت منی او نه د استقرائی سکول ګُندې د نقاد نه د اندازې لګولو او فيصلې کولو حق اخلی. د تنقيد د دې طريقې بنياد د ادب په اضافی اُصولو او تاريخی



تشريح باندې اېښودے شوے دے. او د تفصيل دپاره به نې مونږ ښاغلی ايډمنډ شيرر ته رجوع کوو. شيرر ته لکه چې نې مخکښې نوم اخستے شوے دے. د ملټن د مطالعې په دوران کښې يو ډېر مشکل پېښ شو. هغه د ملټن په حقله د والټير او د لارډ ميکالے متضادو رايو کښې راګېر شو. والټير د ملټن سخته غندنه او ميکالے نې زبردسته ستائنه کړې ده. هغه د چا خبره منلے وے؟ د اتلسمې صدۍ د مشهور فرانسيسی مفکر او که د نولسمې صدۍ د لوئی هوښيار انګريز ليکونکی. شيرر په دې حېران وه چې دوئ دواړو ليکونکيو کښې د کوم يو رائې صحيح ده. او هغه په دې پوه شو چې دا دواړه غلط دی. دوئ يو هم د ملټن د مطالعې په سلسله کښې د لُستونکی مدد نه شی کولے ځکه چې دوئ دواړو کښې اعتدال او غېر جانبداری چې د هر چا نه زياته د نقاد دپاره ضروری وی، نشته. دوئ دواړه د يو بل ترديد کوی او زمونږ هيڅ رهنمائی نشی کولے مونږ به يا د يو خبره منو او د ملټن "پيراډائز لاسټ" به غندو او يا به د بل خبره منو او د دې نظم ستائنه به کوو او داسې به پخپله هيڅ نتيجې ته نه شو رسېدې. نو بيا د دې نظم په حقله ذاتی نتيجې ته رسېدو دپاره مونږ له کومه طريقه اختيارول پکار دی؟

شيرر وائی چې مونږ له د دې غرض دپاره "نوې تاريخی طريقه" استعمالول پکار دی. دا طريقه د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېنا مطابق "زياته نتيجه خېزه او زياته منصفانه" ده ځکه چې د دې غرض درجه بندي نه بلکې پوهه او فيصله ورکول نه بلکې وضاحت کول دي. د دې طريقې مقصد دا دے چې د تصنيف قدروقيمت دې د مصنف د مزاج نه او د هغه تبديلۍ نه چې دې مزاج کښې حالاتو پيدا کړې وه، ولګولے شي نو د ملټن د "پيراډائز لاسټ" د مطالعه په وخت کښې زمونږ فرض دا پکار دي چې تر څو کېدے شي د خپل طبيعت د کمزورۍ، يا د خپل وخت د ادبي ذوق نه پيدا شوي ټول رجحانات او جانبدارۍ د ذهن نه لرې کړو او د دې نظم د موضوع او ليک شان STYLE د صحيح قيمت لګولو دپاره د ملټن د مزاج او د هغه د ماحول مفصله تجزيه وکړو او دا وګورو چې په ملټن باندې کوم کوم ذهني فني او سياسي اسبابو خپل اثرات پيدا کړي وو. دغه اثرات ښه وو که بد، دې سره زمونږ هيڅ تعلق نشته اګر چې ځنې خبرې پکښې مختلفې دي خو بيا هم تر دې حده د استقرائي نقاد په شان دا نقاد هم لا د محقق فرض ادا کوي. ولې له دې ځايه شيرر د ملټن او د هغه د ملګريو ملګرتيا پرېږدي او د تشريح نه د محاکمې په طرف روان شي. دے وائي چې "د مصنف د مزاج او د هغه د عهد د تجزيې او مطالعې نه پخپله د تصنيف ښتينے او صحيح فهم پيدا شي". او دا ښتينے فهم يو داسې معيار پيدا کړي چې مونږ پرې د دغه تصنيف د مقام او قيمت اندازه لګولے



شو. د يو خارجي تنقيد په ځائې اوس تصنيف پخپل ځان پخپله محاکمه کوي. او د انساني ذهن د تخليقاتو په صف کښې د خپل مقام پخپله تعين کوي.

دلته د تنقيد د طريقو او فرائضو پحقله د نورو طريقو د تشريح موقعه نه ده، نو ځکه د تنقيد په ضمن کښې د دې ښکاره رجحان په حقله چې د تنقيد اکې يو مقصد که نه وي نو لوئے مقصد خو ئې تشريح خامخا دے. د دوئ دواړو ليکونکيو د نظريو بيان کافي دے. مولټن که يو خوا د حکمي تنقيد حتمي مخالفت کوي نو بل خوا پروفيسر شيرر د حکمي تنقيد دپاره د انفرادي ذوق او ټرلو فارمولو په ځائې پاخه او زور بنيادونه لټوي. ولې دواړه نقادان د زړو نظريو تنګ تُرش سخت او ګړوړ معيارونه غندي او په دې خواهش کښې شريک دي چې ادبي مطالعه کښې دې د سائنس وسعت غوېجه توب او نظم داخل کړې شي.

په تنقيد کښې دا نوي رجحانات ډېر لوئے اهميت لري. د دې رجحاناتو په پيروي مونږ د ادب او اديب پحقله ښتينے علم موندے شو. لارډ مورلے يو ځائې کښې په دې خبره ډېر خفګان ښکاره کړے دے چې انساني ذهن د زرګونو کالو راسې د ارسطو د الميې په تعريف بحثونو کښې بوخت پاتې شوے دے او دا ئې نه دي کړي چې د ارسطو د تعريف په ځائې براه راست د الميې تجزيه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطالعه وکړي. لارډ مورلې وائي چې دا د انساني دانشمندۍ توهين وي. ادبي تنقيد په دې طريقه تل تر تله د اصطلاحاتو او استاذانه اختياراتو لاندې پائمال شوې دې او د انفرادي ذوق د بدلېدو رابدلېدو نه د بچ کېدو دپاره اکې يوه لار دا وګڼلې شوه چې يوې تيارې او مخکښې نه جوړې شوې ضابطې ته دې غاړه کېښودې شي. نو خکه د هر مصنف اندازه د وضع شوو قانونونو مطابق کېده او ادب کښې هره نوې لار د زړو مثالونو مطابق سنجولې او خيرلې شوه. د زړو قانونونو دې غلامانه تقليد دا عام خيال پېدا کړو چې د يوناني او لاطيني ليکونکيو ليکونه مثالي او معياري دي او د دغې خيال نه په ادب کښې د کلاسيکي نظريې تصور پېدا شو او چې د کلاسيکي دور ختم شو نو بيا هم د نقادانو طريقه دا وه چې يو يا بل اديب يا د ادب يو يا بل سکول داسې تسليم کړي. لکه چې بس هم دوئ د ادب په اصلي معنٰی پوه شوي وو. او د دوئ نه پس دغه ادبي کمال موندل ناممکن دي. تنقيد يو روايتي علم وګڼلې شو چې په قوانينو کښې ئې نه خو ترميم کېدې شو او نه د څه اُصولو د پابندۍ احتياج ئې لرلو. نقادانو به د هرې هغې نوې لارې غندنه کوله کومه چې د دغو قوانينو سره سمه نه وه. او هم دغه وجه ده چې شيکسپئير تر ډېرې زمانې په فرانس کښې او په انګلستان کښې هم د ډېرو نقادانو د رائې مطابق "وحشي او غير فني" ګڼلې شو. خکه



چې د شيکسپئير ډرامې د کلاسيکي ډرامو د قوانينو مطابق نه وې. او د کلاسيکي ډرامو د قانونونو خلاف ورزې پکښې شوې وه. دا تنقيد ماضي پرست وه او د خپلې ماضي پرستۍ له کبله ئې عملي طور سره د ارتقاء د اُصولو نه انکار کولو. او د نوي ادبي روح د نوو لارو موندلو حق ئې نه تسليمولو. د دغه نظريې خاوندانو دا لوئې حقيقت چې ورډزورته ئې اظهار کړې دې او ادبي تاريخ ئې تل تر تله مثالونه پېش کوي، هېر کړې وه. ورډزورته وائي "هر ليکونکې د خپل عظمت او طبعزادۍ مطابق د خپل تصنيف نه د لطف اندوز کېدو دپاره پخپله ذوق پېدا کوي." د ورډزورته د دې خبرې د نتيجې په طور مونږ دومره ورسره اضافه کوو چې د دې نه علاوه هر ليکونکې د خپل تصنيف د تنقيد دپاره معيار هم پېدا کوي.

د حکمي سکول د تنقيد د طريقو او نتائجو په حقله د دغې سکول د دوو لويو نقادانو ايډيسن او ډاکټر جانسن د تصنيفاتو نه مفصل علم حاصلېدې شي. ايډيسن په "پيراډائز لاسټ" د تنقيد کولو په موقع د شيرر غُندې دا نه دي کړي چې د ملټن د شخصيت او د هغه د عهد تجزيه وکړي بلکې د هغه طريقه دا ده چې د ملټن دا نظم د رزميه شاعرۍ د قوانينو په رڼا کښې وګوري. او د دغه قسم د شاعرۍ د خوبيو او ښکلا معلومولو دپاره ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ایلیډ" او "اینیډ" سره مقابله کړي. دا قوانین او دا ښکلا چرته ده او د دې د معلوموملو طریقه به څه وي. د ایډیسن په خیال کښې به مونږ د دې سوالونو خوابونه د هومر ورجل او ارسطو د مطالعې نه حاصلوؤ. او مونږ به ملټن د دوئ په ګزونو کچ کوؤ. اوس دې سلسله کښې دا هېرول نه دي پکار چې د ملټن په باره کښې د تنقید دا طریقه استعمالول څه نه څه جواز لري چې ملټن د خپل نظم د لیکلو په وخت کښې خان ته هم دغه کلاسیکي مثالونه مخکښې ایښي وو او د دې اعتراف ئې هم کړے دے او ځکه که ملټن پخپله په خپل خان تنقید کولے نو هم د ایډیسن طریقه به ئې استعمالوله. ولې د شیکسپئر معامله بالکل جدا ده. شیکسپئر خان ته د کلاسیکي ډرامې مثالونه وړاندې نه وو ایښي. نو ځکه په هغه باندې کلاسیکي قوانین او معیارونه استعمالول صحیح نه دي. خو بیا هم د ایډیسن د دې طریقې د اُصولو تنګي نورو ډېرو ځایونو کښې څرګندېږي. د مثال په طور هغه ځائې کښې چې دې د ملټن د نظم په "قصه" (FABLE) لکه د ډرائیډن غُندې دا اعتراض کوي چې د نظم واقعه "غمناکه" ده او د ارسطو دا قانون پکښې د نظر د وړاندې نه دے ساتلے شوے چې رزمیه نظم به هیچرې په غمناکه نتیجه نه ختمېږي. یا چې کوم ځائې کښې ایډیسن د نظم په کنایه او تمثیلي بیان (ALLEGORY) دا اعتراض



کوي چې د نظم په دې انداز کښې د هومر او ورجل په ځائې د سپنسر او اریاسټو تتبع شوې ده. خو په یو ځائې کښې ایډیسن داسې اعتراف کړے دے چې د هغې نه دا معلومېږي چې دې د ارسطو د قانونونو حتمیت نه مني. او ادب کښې د ارتقاء د اصولو قائل دے. د ملټن په کردارونو د بحث کولو په موقعه دے وائي "چې دلته او ځنې نورو ځایونو کښې د ارسطو د رزمیه شاعرۍ هغه قوانین نه شي نافذ کېدے کوم چې ده د هومر د مطالعې نه راوکښلي وو. ځکه چې دا هر غیر جانبدار ناقد ته ښکاره ده چې که چرې ارسطو "اینیډ" لُستلے وے چې د ده د مرګ نه تقریباً سل کاله پس لیکلے شوے وه نو د ده دا قوانین به زیات مکمل وو". د ایډیسن دا اتفاقي اعتراف د هغو ټولو اُصولو بنیاد وُغرخوي د کومو لاندې چې ده په ملټن تنقید شروع کړے وه ځکه چې که د "اینیډ" په مطالعه ارسطو خپلو اُصولو کښې تبدیلي راوستے شي نو دا هم کېدے شي چې د "پیراډائز لاسټ" د مطالعې نه پس د ارسطو دا اُصول او قوانین نور هم بدل او "مکمل" شوي وے.

هم دغه حال د جانسن د تنقید هم دے د ده د تنقید نه هم مونږ په دغه نتیجه رسو. لکه چې د میکالے وېنا ده ډاکټر جانسن هغه شاعري د ټولو نه غوره شاعري ګڼله، کومه چې د ده په وخت کښې وه او د کومې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده د ماشومتوب نه ستائنې اوريدلې وے او پخپله ئې هم کوله. هغه د تنقيد ټول أصول هم د دغه شاعرۍ مطالعه کښې کتل او نتيجه ئې دا وه چې د دغه شاعرۍ نه بغير نوره شاعري ده ته بې معنې او بې خوبۍ ښکاريدله. هم دغه وجه وه چې د شيکسپئير او ملټن صحيح عظمت د ده روزی نه شو. او ګرے سره ئې سخته بې انصافی وکړه. او هر هغه ادبی تحريک ئې غندلو او ورپورې ئې ټوقې کولے. چې ده پکښې د زړې لارې نه د بغاوت عنصر موندو. د مثال په طور د اتلسمې صدۍ په اخر کښې د ديملو د نشاة ثانيه تحريک.

مونږ چې د ايډيسن او جانسن نه د وکټوريې د عهد هر نمائنده نقاد ته راشو نو يوه زبردسته تبديلی محسوسه کړو اوس د تنقيد د مقاصدو پحقله زړه نظريه که بالکل پرېښودې شوې نه ده نو ترميمونه خو په کښې خامخا شوی دی. زړې طريقې خو اوس بالکل متروکې شوی دی. د دې دا مطلب نه دے چې ګنی اوس ناقد خان قانون ساز او قاضی نه ګڼی. يا دا نه غواړی چې په دغو نامو دې ياد شی يا د ذاتی ترجيحاتو دپاره زاړه قانونونه نه استعمالوی. ولې کله کله دې د نوی سائنسی تصوراتو داسې نفاذ کوی چې د تنقيد هغه زړه حکمی نظريه او د نقاد د قانون سازۍ حق بالکل نظر انداز کړی د دې هر څه سره د تنقيد پحقله يوه واضحه تبديلی بيا هم محسوسيږی.



جديد نقاد تر ډېره حده اوس محض ښه او خراب خطابونه نه وېشی بلکه چې څومره کېدے شی هغه خان پوهول او تشريح کول د تنقيد مقصد ګڼی. د هر ښه څيز انتخاب چې د موجوده زمانې ټولو نه لوئے رجحان دے او ارتقائی طريقو د ناقد نظر ته وسعت او خلوص وربخښلے دے او د دې نه علاوه ئې هغه د شخصيت په ارتقاء او تاريخی ربط باندې پوه کړے دے. دا ټول عناصر په زوړ تنقيد کښې مفقود دی.

مولټن چې د زوړ تنقيد په حقله څه وئيلی دی نو د ننني زمانې اکثر لُستونکی به ورسره اتفاق کوی. خو زما يقين دے چې د هغه د ټولو نه لويې نتيجې ته به صحيح وئيل ممکن نه وی. زه لا فی الحال د هغه په دې خيال څه مفصل وئيل نه غواړم چې ګنی ادبی تنقيد د سائنسی علمونو دائرې ته راوستل ممکن دی او که نه. هسې يوه خبره چې زما په خيال مولټن نه په دې سلسله کښې هېره شوې ده دا ده چې لکه هربرټ سپنسر وائی چې د سائنس کار تر هغه وخته نه ختمېږی تر څو چې په استقرائی عمل سر ته رسيدلی تعميم نه په استخراجی طريقه أصول وضع نه کړی.

مولټن به د سپنسر د دې وېنا په رڼا کښې اوس دې مسئلې ته څېلمه کېږی چې هغه به د شيکسپئير د استقرائی تنقيد نه پس په کومه طريقه د تعميمی بيان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُصول وضع کوی. دَ مولټن ټولو نه لویه نتیجه چې زه ورسره اتفاق نه شم کولے دَ حکمی تنقید دَ مکملې غندنې په حقله ده. دَ استقرائی طریقې نتائج که هر څو قیمتی وی ولې دَ ادب طالب علم پرې دَ ټول عمر دپاره مطمئن کېدے نه شی او هر څو که دا طریقه دَ تنقید اهم ترینو طریقو نه یوه ده بیا هم دَ نورو ټولو طریقو نعم البدل ورته نه شو وئیلے.

دَ ادب دَ دې سائنسی نقاد (دَ مولټن دَ خیال مطابق) دَ مطلقې یا اضافی خوبۍ سره هیڅ کار نشته. هغه صرف په قسم کښې فرق تسلیموی. دَ درجې فرق هغه نه منی هغه به دَ شیکسپئیر دَ مطالعې نه دَ شیکسپئیر فنی قوانین او اُصول راوباسی او یو تعمیم به ئې کوی. دَ هغه دې سره څه کار نشته چې شیکسپئیر دَ ژوند دَ نقاد په حېثیت معقول تنقید کړے دے او که نه. او دغه اُصول او قوانین ښه دی او که بد.

ولې دا او دَ دې قبیلې نور سوالونه په ځائې او ناګزیر دی. مونږ دَ دې سوالونو نه خان نه شو ژغورلے ځکه چې دَ دې سوالونو که نور هیڅ مطلب نه وی نو کم از کم په ادبی مطالعه کښې زمونږ رهنمائی خو کوی. نو ځکه زمونږ دا حق دے چې دَ دې سوالونو دَ ځوابونو مطالبه وکړو او دلته دَ ادب او سائنس تر مېنځه فرق راشی. دَ مثال په طور دَ علم طبقات الارض چې کوم شهود سره کار



پېښېږی هغه کښې دَ شخصیت عنصر، رښتیا، دروغ، جذباتی زور او فنی اثرات شامل نه دی. دا عناصر دَ هغه ادب دَ شهود جوهر دے چې دَ ژوند شرح دَ فن دَ پیکر په ذریعه کوی. او ځکه دَ دې اندازه به خامخا دَ وضاحت او دَ فن دَ خاصیتونو په بنیاد کېږی. دَ علم طبقات الارض په مطالعه کښې زمونږ کار صرف دَ یو څیز ماهیت او دَ دغه ماهیت تاریخ سره وی. مونږ چې په دې پوه شو یا پوه کړې شو چې دا څیز څه دے او تر دې حاله څنګه رارسیدلے دے. نو زمونږ کار ختم شی. ولې دَ ادب مطالعه کښې دا سوالونه مونږ یوې بلې مسئلې ته بوځی او هغه دا چې دَ دې څیز انسانی او فنی خوبۍ او عېبونه څه دی. دا وېنا غلطه ده چې کوم خلق ادب او سائنس یو ګڼی دَ هغوی دپاره خوبۍ او عېبونه وجود نه لری. سائنسدان هم دا خوبۍ او عېبونه تسلیموی او مولټن هم. ځکه چې کوم وخت هغه دَ خپل استقرائی وضاحت دپاره شیکسپئیر منتخب کولو نو هغه لکه زمونږ غُندې چې دَ "ذوق اُصول" منو، دَ شیکسپئیر دَ برترۍ قائل شوے وو. که داسې نه وے نو هغه به دَ شیریډان یا بل چرته ورکوټی لیکونکی استقرائی مطالعه کړې وه. خو هغه داسې ونه کړه او شیکسپئیر ئې ځکه خوښ کړو چې هغه ورته "عظیم" ښکارېدو. او په دې پوه وو. چې دَ هغه ډرامې یواځې دَ هغه دَ اسلوب اظهار نه بلکې دَ هغه دَ عظمت اظهار هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے. په دې طریقه مولټن د یوې اندازې او حکم نه کار واخستو او "خوبی" ئې تسلیم کړه.

دا عین د فطرت مطابق ده ځکه که مونږه تنقید هر څو سائنس وګڼو خو یوه محاکمه بیا هم کوو. د سکول ماشوم هم محاکمه کوی او کتابونو کښې درجه بندی کوی. تر هغې پورې هیڅوک هم مطالعه نه شی کولے تر څو پورې چې د مطالعې لاندې د کتاب پحقله یوه رائې قائمه نه کړی او چې هر کله مونږ ته یو کتاب څوک رامخکښې کړی نو مونږ پرې د هغه رائې غواړو. زمونږه ادبی مطالعه چې څومره زیاتېږی دومره د محاکمې دا مسئله ګرانېږی او چې چرته مونږ یو خل یو متعصبانه حکم لګولے دے هلته د مطالعې د زیاتېدو نه پس خپله رائې محفوظ ساتلو باندې مجبورېږو او مونږ خپلې نظریې بدلوؤ رابدلوؤ. حالانکې دغه نظریې یو ځل مونږ "حرف اخر" ګڼلې وے. په بنیادی مسئلو د نقادانو اختلاف کله کله سړی کښې مایوسی پیدا کوی خو محض په دې وجه به مونږ دا مسئلې یو خوا ته نه پرېږدو او نه به دا کوؤ چې د سائنسی محقق غُندې غېر جانبداره رویه اختیار کړو. استقرائی نقاد چې مونږ ته څه راکوی مونږ به ئې په شکریه قبلوؤ خو مونږ به د حکمی نقاد نه تل تر تله دا طمع لرو چې هغه به دا استقرائی عمل تکمیل ته رسوی او د دیو نتیجو په بنیاد به مونږ ته د ښه او خراب ادب فرق



څرګندوی. دنیا له فرقه پېدا ده او په درجو کښې خامخا فرق شته:

*هر آنکه حفظ مراتب نکند زندیق است*

تر څو چې مونږ دا نه وی ګڼلے چې څنګه د طبقات الارض ماهر ته د زمکې هر قسم یو شان او مساوی حېثیت او درجه لری دغسې مونږ د ادب سائنسی طلباء هم ټول ادب یو شان ګڼو تر هغې به د ادبی درجه بندی ضرورت او د دې لوېې مسئلې اهمیت محسوسېږی او که مونږ دا وګڼله نو بیا به مونږ په شهکار او د معمولی درجې ادب کښې که خېر وی فرق نه کوؤ. نو چې دا نه شو ګڼلے نو حکمی تنقید د خپلو ګذشته او آئنده غلطیو باوجود هم مونږ نه شو نظرانداز کولے ځکه چې هم دغه یوه طریقه ده چې مونږ پرې دا مسئله حل کولے شو.

## نُکتې

ا. استقرائی تنقید. نقاد د مشرح او مفسر په حېثیت. په حکمی او استقرائی تنقید کښې فرقونه.

ب. تاریخی تنقید. د شیرر نظریه. د شخصیت، د عهد تجزیه.

ج. د حکمی تنقید مثالونه. ایډیسن او جانسن.

د. جدید نقاد. د حکمی تنقید جواز او ضرورت. درجه بندی ضروری ده.

Pukhto.Net پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳

تر اوسه پورې مونږ په تنقید محض دَ ادب سره دَ تنقید دَ رشتې دَ زاويې نه بحث کولو. اوس به مونږ دَ بحث يو بل اړخ شروع کوو.

مونږ تنقيد محض په دې غرض لوُلو چې په کوم مصنف يا کتاب تنقيد شوے وی. هغه سره زمونږ دلچسپی وی. خو دَ تنقيد دَ لُستلو په دوران کښې زمونږ پخپله په تنقيد نګار کښې هم دلچسپی پيدا شی. دَ مثال په طور زمونږ دَ آرنلډ "ايسيز ان کرټسزم" دَ ورډزورتهه يا بائرن او دَ شيلے يا کيټس متعلق دَ مفصل علم حاصلولو دپاره مطالعه کوو. او دغه کتاب دَ يوې ذريعې په حېثيت لوُلو. مقصد مو دا وی چې دَ دغو شاعرانو په حقله خپلو معلوماتو کښې اضافه وکړو خو دَ مطالعې دوران کښې دا



کتاب زمونږ دَ دلچسپی مرکز شی او دَ ذريعې په ځائې دَ مقصد حېثيت اختيار کړی. دا کتاب دَ آرنلډ دَ شخصيت فکر، طريقو او مقاصدو پحقله زمونږ توجه خان ته راکاږی مونږ به دَ آرنلډ ډېرو خبرو او نتيجو سره اختلاف کوو خو بيا هم دَ هغه دَ شخصيت فکر او طريقه تنقيد پحقله په دې کتاب کښې زمونږ په دلچسپی کښې هيڅ فرق نه راځی. دَ آرنلډ ذکر صرف دَ مثال په طور وشو دا خبره دَ هر لوئی او رښتينی نقاد په حقله صحيح ده. دَ دې نه دا نتيجه راوځی چې هر څو که تنقيد ادبی مطالعه کښې يوه امدادی ذريعه ګڼلے شی دا صرف يوه ذريعه نه ده بلکې پخپله دَ ادب يو قسم دے او ځکه په دې حېثيت دَ غور لاندې دَ راوستلو جوګه دے.

چونکې شخصيت دَ ادب بنيادی حقيقت دے نو دَ دې دپاره مونږ به دَ نقاد شخصيت اول څيرو. زمونږ غرض به دا وی چې وګورو چې آيا دا نقاد دَ ترجمان شارح او حکم لګونکی دَ منصب مستحق دے او که نه. ځکه چې تر څو مونږ په دې مطمئن نه شو مونږ دَ هغه په خبرو يقين نه شو کولے نو ځکه وړومبے دا کتل پکار دی چې په نقاد کښې کوم کوم ضروری خصوصيات پکار دی. دَ ټولو نه وړومبے به مونږ په يو نقاد کښې دا ګورو چې دے تر کومه حده دَ ذهنی تربيت او مزاج له اعتباره دَ يو مکمل نقاد نمونې سره مطابقت لری. او چونکې انسان بالکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکمل کېدے نۀ شي نو ځکه به مونږ دا ګورو چې مونږ دۀ ته تر کومه حده دَ دۀ غلطي معاف کولے شو کومې چې دۀ دَ يو مکمل نقاد نمونې ته دَ رسېدو پۀ لاره کښې کړې دي. هر ريښتينے نقاد پۀ ذهني طور بېدار، غوېجـه، دَ بصيرت خاوند، تېز ذهن لرونکے او دَ آرنلډ دَ قول مطابق دَ دې قابل وي چې مونږ ته څيزونه لکه څنګه چې وي هغسې وښيي او دَ خپلو تعصبونو او رجحاناتو پۀ رڼا کښې دغه څيزونه کتلو باندې لُستونکي مجبور نۀ کړي دَ دې مطلب دا شو چې نقاد دې هر قسم تعصباتو نه پاک او غېر جانبدار وي. نۀ خو دې هغه دَ خپل انفرادي ذوق پۀ وجه او نۀ دَ خپل علم عقيدې، جماعت، فرقې او دَ قوم لۀ کبله دې خپل ذهن جانبدار کوي. لکه څنګه چې مخکښې عرض وشو انسان بالکل دَ دې تعصباتو نه خالي کېدے نۀ شي. دَ ليسنګ غُندې لوئے نقاد دَ دې رجحاناتو نه بچ شوے نۀ دے نو دَ بل نقاد نه به څوک څۀ طمع ولري. نو پکار دا دي چې مونږ دَ نقاد ذهن پۀ دې سلسله کښې دَ ډېرې محتاطې مطالعې لاندې ساتو او چې کله داسې نخښې ووينو چې نقاد يو يا بل طرف ته کږېږي نو دَ هغې وجوهات دې معلومه کړو او دَ دغه مخصوص مېلان يا رجحان دَ نتيجو پۀ حقله دې دَ هغۀ دَ تنقيد نه اندازه ولګوؤ. يو نقاد چې پۀ يو شاعر تنقيد کوي. دَ مثال پۀ طور آرنلډ چې پۀ ورډزورتھ يا شيلے تنقيد کوي نو مونږ



دې فوراً دا خيال وکړو، چې دَ نقاد دَ دې رويې وضاحت دَ هغۀ دَ مزاج دَ خصوصياتو نه کېدے شي او کۀ نه. مونږ ته به دا ثابته شي چې کله کله يو ډېر ښکلے تنقيد محض دَ نقاد دَ تعصب لۀ کبله بې قدره شي او مونږ پرې بيا اعتبار نۀ شُو کولے. دَ دې يو زبردست مثال دَ جانسن تنقيد کښې موندلے شي. جانسن چې هر کله پۀ هغو ليکونکيو تنقيد کړے دے کوم چې دَ دۀ خوښ دي، يا چې دَ کومو ليکونکيو مقاصدو او طريقو سره دَ دۀ اتفاق او همدردي ده. نو هغه وخت دَ دۀ تنقيد بې شکه چې ډېر ښۀ او قابل داد دے خو چې چا سره دَ دۀ څۀ اُصولي اختلاف وۀ دَ هغۀ پۀ حقله دَ دۀ تنقيد غېر متوازن دے. پوپ او ايډيسن دَ دۀ خوښ وو، ځکه چې دۀ سره ئې نظرياتي اتفاق وۀ. ملټن سره دَ دۀ سياسي اختلاف او ګرے سره ئې ذاتي او ادبي اختلاف وۀ. ځکه ئې هغه دواړه ستائيلي او دا دواړه غندلي دي. دا اعتراض پۀ کولرج هم وارديږي. دَ شاعرانه وجدان او بصيرت لۀ اعتباره کولرج دَ انګريزي دَ بهترينو نقادانو نه يو دے. ولې هغه دَ خپل مابعد الطبيعاتي مزاج او دَ ځنو ليکونکيو دَ هغه احترام لۀ کبله کوم چې دَ اوولسمې او اتلسمې صدۍ کلاسيکيانو دَ يونان او روم دَ ادب کولو، دې کوشش کښې اکثر ناکام شوے دے چې مونږ ته څيزونه لکه څنګه چې دي هغسې وښيي. دَ شيکسپئير پۀ حقله دَ هغۀ دَ تنقيد ډېره ستائنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي. خو د خپلو ټولو خوبيو باوجود دغه تنقيد کښې ډېره لويه مبالغه ده. يو بل مثال مونږ ته پخپله دَ آرنلډ دَ تنقيد نه حاصلېږي. آرنلډ هسې خو دَ غېر جانبدارۍ دَ ټولـو نـه لوئے وکيل وه خو خپل علم او دَ آکسفورډ تربيت هغه پـه دې مجبور کړو چې يونانـي استاذانو لـه خامخـا غېـر ضروري اهميت ورکړي. هغه يو خط کښې مس آرنلډ تـه ليکلي دي "شيکسپئير دَ هومر نه دومره وروستو دے لکـه چې عدم کمال دَ کمـال نـه وروستـو وی" دغسې دَ سکـاټ پحقلـه دَ هغه دَ فېصلو نـه دا معلـومېږي چـې هغـه دَ کلاسيکي ادب دَ "مکملتيا" قائل وه.

مونږ نور په دې مسئله څه نه وائيو دَ دې دومـره بحث نه به دا ښکاره شوے وی چې دا تعصبات اکثر دَ نقاد ذهن داسې متاثر کړی چې دَ هغه تنقيد غېر متـوازن شـی او هغه غېر جانبداری پرېږدی. نو ځکه دَ هر نقاد دَ لُستلـو په وخت کښې مونږ ته پکار دی چې دا اندازه ولګوؤ چې دَ ده تعصبات څه دی او دغه تعصبات مونږ تر کومـه حـده معاف کولے شو.

د نقاد خصوصيت محض دَ هغه طبعي قـابليت نـه دے ځکه دلته اوس بل سوال دَ هغه دَ علم پېدا کېږي.

دا کېدے شی چې کله کله ادبي مسائلو کښې دَ يـو کم علمه لُستونکي چې څه فنـي تـربيت نې هم نـه وی، فېصله ډېره ښه او په ځـائې وی او داسـې هـم کېـدے شی



چې دَ دغـو فېصلـو پـه وجـه دې څـه ادبـي مقـام هـم بيامومی. ولې دا يو حقيقت دے چې دَ منظم تنقيد دپـاره علم او فني تربيت بې انتها ضروری وی او دَ تعليم نه دلته مطلب دَ علم تحصيل او دَ ذهن تربيت دے. علم ناقد تـه دَ نظر وسعت او دَ فېصلې دپاره يو مخصـوص بنيـاد ورکـوی او ذهني تربيت دَ هغه دپاره ځکه ضروری دے چې دَ ذهـن دَ تربيت په وجه ناقد دَ دغه علم نه فائده او کار واخلـی. دَ مفسر او مشرح په حېثيت به دَ هغه اهميت دَ هغه دَ علم په نسبت وی چې څومره زيات دَ هغـه علـم وی دومـره بـه هغه ښه مفسر او ښـه مشـرح وی کـه نـه وی نـو دَ هغـه خبرې که هر څومـره خيـال انګيـزې او دلچسپـې وی هيـڅ قدروقيمت نه لری.

ځکه اوس دلته دَ ايډيسن مثـال ورکـول منـاسب دی هر څو که مونږ دَ ايډيسن دا عقيده نه منو چې "ايليډ" او "اينيډ" دَ رزميه شاعرۍ حتمي قوانين ښيي ولـې بيـا هـم مونږ له دا ياد ساتل پکار دی چې دَ ملټن پـه "پيراډائـز لاسټ" باندې تنقيد کول دَ يو داسې نقاد کار وه چې هغـه دَ هغو استاذانو مطالعه کړې وے کوم ته چې ملټن خپـل استاذان وئيل. او په دې دليل دَ يو نقاد دپاره چې پـه يـوه ډرامه يا ناول باندې تنقيد ليکل غواړی، دا لازمي ده چـې دَ دنيا دَ لويو ډرامو او ناولونو سره واقفيت ولری مونږ به دَ آرنلډ دې وېنا سره خامخا اتفاق کوؤ چې دَ يـو نقـاد دپـاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



كه نه وي نه وي نو دومره علم خو پكار دے چې هغه دَ خپل ادب نه علاوه دَ يو بل ادب سره هم واقف وي. دا ادب چې دَ هغه دَ خپل ادب نه څومره ډېر مختلف وي دومره به ښه وي. دَ آرنلډ دا خبره هم مبالغه آمېزه نه ده چې دَ دې نه علاوه دَ يو رښتينى نقاد دپاره خامخا دَ يورپ دَ ښه ادب او دَ زوړ مشرق دَ ادب علم لرل فائده مند وي. هم دَ يو ادب مطالعه او علم به خامخا دَ نظر تنگى او فېصلو كښې عدم توازن پېدا كوي.

د نقاد دپاره ذهنى تربيت ډېر زيات ضرورى دے ځكه چې دَ ذهنى تربيت ډېر لوئے عملى اثر وي. دَ يورپ او امريكې تبصره نگارانو كښې هم دغه كمے دے. يو نوے ناول چاپ شي او دوئ پرې تبصره ليكل شروع كړي، دې ناول كښې ښه ځيزونه هم وي خو دغه تبصره نگاران ئې دومره وچت كړي چې دَ دغه ناول نگار په وړاندې سكاټ او ډكنز محض مبتديان ښكاره كړي. څو كاله تېر شي او دَ دغه عظيم ناول او دَ دې عظيم ناول ليكونكے دَ خلقو هېر شي او بيا دغه تبصره نگاران يو بل ليكونكے دَ "عظيم" ثابتولو كوشش شروع كړي. دَ دې وجه دا ده چې دغه تبصره نگارانو ته دَ خپلو فرائضو او دَ خپلو الفاظو دَ قدروقيمت احساس نه وي او دَ دوئ دَ ذهنى تربيت دَ كمى په وجه دوئ كښې توازن نه وي دا صحيح ده چې دَ دې مرض مكمل علاج صرف علم او ذهنى تربيت كښې دَ



اضافې په ذريعې ممكن نه دے ولې دا خو كېدے شي چې علم او ذهنى تربيت كښې اضافه به تر ډېره حده هغه توازن او سنجيدگى پېدا كړي چې دَ هغې نه بغېر تنقيد يو بېكاره شے دے.

د يو فنكار دَ كتاب لُستلو په وخت كښې ډېر داسې ځيزونه دي چې دَ هغو خيال ساتل پكار دي. مونږ به دَ هغه دَ ذاتى خصوصيتونو او دَ هغه دَ علم نه ځان خبروؤ او ځان به په دې هم پوهوؤ چې دغه خصوصيتونو او دغه علم دَ يو مصنف په تصنيف دَ محاكمې په باره كښې نقاد سره څومره امداد كړے دے. يا ده ته ئې كوم مشكلات پېدا كړي دي. مونږ به دَ نقاد دَ هرې جانبدارى اندازه لگوؤ. دَ دغه جانبدارى اصلى وجه او نتيجه به په ډېر احتياط گورو. مونږ به دَ هغه دَ فېصلو بنيادونه خيرو او هغه معيارونه به سنجوؤ دَ كومو په بنياد چې هغه په صراحت يا په محسوس كېدونكى انداز كښې خپله فېصله كړې ده. مونږ له پكار دي چې دَ هغه دَ كتاب عام روح نظر انداز نه كړو. يو نقاد كېدے شي چې محض دَ يو مصنف دَ تشريح او تفسير او هغه سره دَ انصاف كولو په غرض تنقيد كړے وي او دا هم كېدے شي چې يو نقاد محض دَ دې دپاره چې دَ دغه كتاب په بانه خپل علم او قابليت ظاهر كړي، تنقيد وكړي. يو نقاد مخلص او متوازن هم كېدے شي. چې غرض ئې دا وي چې دَ يو مصنف

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبي دي بيان کړي. او داسې هم کېدے شي چې يو نقاد محض د مصنف د غلطيو نيولو او د هغه د تنقيص دپاره تنقيد وليکي. مونږ د ايډيسن د تنقيد پحقله که هر خيال لرو خو مونږ له دا کتل پکار دي چې د هغه لهجه ډېره خوشگواره ده. د هغه دا عقيده وه چې د يو رښتيني نقاد فرض دا دے چې د نقصونو په ځائې د خوبيو تلاش کوي. د دې عقيدې لاندې هغه خپل لوئي فرض دا گڼلې وو چې د يو ليکونکي پټې خوبۍ معلومې کړي. او دنيا ته هغه څه وښيي چې د مشاهدې استحقاق لري. د ده په مقابله کښې د لارډ جيفرے تنقيد دے چې د خوشگوار متضاد هر اسم صفت پرې حاوي کېدے شي. د لارډ جيفرے خيال د پروفېسر سينټسبري په الفاظو کښې دا دے لکه چې "هر مصنف نقاد ته پرے په غاړه راوړاندې کېږي خو (صرف خاص رعايت) ئې د پانسي کېدو نه بچ کړي" دا خيال د پروفېسر سينټسبري د رائې مطابق چې څومره احمقانه دے دومره متکبرانه هم دے او لا تر اوسه متروک شوے نه دے. هم د دې د لاسه تنقيد ته غېرگ نقصانونه رسېدلي دي. يو خو ئې هغه خلق د تنقيد نه برگشته کړي دي کوم چې د تنقيد مخالف نه وو او بله دا چې پخپله نقاد ئې هم د خپلو فرائضو په سلسله کښې گمراه کړے دے. د دې نه هيڅوک انکار نه کوي چې ځنې صورتونو کښې دا نقادانه سخت گيري جواز هم لري او نه به څوک دا خبره غلطه



وگڼي چې که کلانکاري همېشه دپاره غلط کار دے نو بې خايه رحمدلي هم هيچرې ښه کار نه دے. خو اوس مونږ لا په دې سوال څه بحث نه کوو. اوس مونږ صرف د دې خبرې په اهميت زور اچول غواړو چې د نقاد د ليک روح د هغه د کتاب په خصوصياتو کښې شامل کړې شي او دا روح چې په کومه طريقه د هغه په فېصلو اثر اچوي هغه دې د نظر لاندې وساتلے شي.

## نُکتې

ا. تنقيدي ادب د ادب يو قسم دے. د شخصيت عناصر.

ب. د نقاد دپاره ضروري څيزونه. بصيرت، غېرجانبداري، علم.

ج. د نقاد د مطالعې په وخت کښې د غور قابل څيزونه.

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤

دَ ادب دَ نورو قسمونو غُندې تنقيد کښې به هم مونږ دَ هر ليکونکي په حقله دَ خپل علم دَ زياتولو او يقيني کولو دپاره تقابلي مطالعه کوؤ. مونږ به دَ هغه کتاب دَ نورو نقادانو چې هم په دغه موضوع کتابونو، ليکونو، ادبي عهدونو يا دَ ادب په هم دغه قسمونو ئې ليکل کړي وي، ليکونو سره مقابله کوؤ. او په دې طريقه به دَ هر يو نقاد خصوصيت محسوس کوؤ، مونږ به صرف دې ته نه ګورو چې دوئ په نتيجو کښې اختلاف کړے دے او که اتفاق. مونږ به دَ هغه ذاتي رويه، موضوع ته دَ هغوی رسائي دَ مزاج تبديلي سره په ځنو خبرو زور اچول



او خني نظر انداز کول، دَ هغوی طريقې، معيارونه، مزاج او ذوق هم يو بل سره مقابله کوؤ. دا ټولې خبرې دَ يو نقاد په انفرادي مطالعه نه شي کېدے. په دې طريقه به چې مونږ کومو نتيجو ته ورسو هغه نه يواځې ځان له دلچسپې دي بلکه په دې وجه هم ډېر لوئے اهميت لري چې دَ دغو نتيجو نه به مونږ دَ هر يو نقاد خصوصيتونه دَ نقاد کردار علم او مقاصد سره متعلق کولے شو.

مونږ چې څومره څومره دا تقابلي مطالعه کوؤ، نو دومره به مونږ ته په تنقيدي خيالاتو کښې اختلافات راڅرګندېږي او لکه چې اول عرض شوے دے مونږ ته به دا احساس وشي چې دا نقادان دَ ادب دَ بنيادي خبرو په حقله هم خپلو کښې متفق نه دي او دا هغه شے دے (لکه چې ما مخکښې هم عرض کړے دے) چې دَ تنقيد دَ بې قدرۍ او نفرت دپاره ذمه وار دے.

د تنقيد برخلاف يو غټ دليل دَ دې حقيقت نه پېش کېږي چې معاصرانه تنقيد هيچرې هم دَ يو تخليق پحقله ښه يا بده داسې رائې نه ده ورکړې چې بيا وروستو نقادانو دَ هغې ترديد نه وي کړے. *(اېډنبرا ريو يورز دَ کولرج مشهور نظم "کرستابل" دَ ورډزورته "ام مورټيليټي اوډ" او دغسې دَ کيټس ټوله شاعري کړله آرنلډ دَ ورډزورته دَ نظرېې قائل وه. خو دَ ټيني سن دَ شاعرۍ ئې منمت کولو).*

اکثر حالاتو کښې دا تنقيدي اختلافات محض

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذاتي وي که داسې وي نو دا اختلافات هم د دلچسپی څه عنصر لري. او مونږ له پکار دی چې ئې قبول کړو. خو دا اختلاف عام طور سره اجتماعي او ډلنيز هم وي. عام طور سره د يوې زمانې او نظريې په نقادانو کښې اتفاق رائې او د مختلفو زمانو او نظريو په نقادانو کښې د رائې اختلاف موندے شي.

د دې وجه هغه انحصار دے کوم چې د هرې زمانې ادب د خپلې زمانې په ژوند لري. تنقيد هم لکه د نور ادب په شان که يو خوا د شخصيت اظهار کوی نو بل خوا د خپلې زمانې روح هم په کښې صفا ځلېږي.

په دې طريقه زمونږ د مطالعې مرکز د انفرادی نقاد په ځائې د تنقيد تاريخی مطالعه شي. دا مطالعه هم ډېره دلچسپه ده ځکه چې د تنقيد تاريخ د داسې تبديليو د مثالونو نه ډک دے چې د انسان د ادب تصور، د ادب مقاصدو، د ادب اُصولو او معيارونو کښې راغلے دے.

د مختلفو نمائنده ليکونکيو په حقله په تنقيدی رائې کښې چې کومې تبديلۍ راغلی دی د هغې مطالعه هم ډېره دلچسپه ده. د دې سلسلې د ټولو نه روڼ مثال د شيکسپئير په حقله په تنقيدی رائې کښې اختلاف دے خو زه به د شيکسپئير په ځائې د جان بن ين John Bunyan مثال ورکړم. د اتلسمې صدۍ نقادانو د خپل کلاسيکی ذوق او د فن په حقله د خپلې تنګې نظريې په وجه د جان



بن ين د دې کتاب هډو څه نوټس وانه خستو او که چا پرې څه وليکل (لکه جانسن او سوفټ) نو هم ئې ورته ډېر سپک نظر وکړو. ينګ هيوم، برک او تر دې چې کوپر هم د ده غندنه وکړه. خو د نولسمې صدۍ په وړومبيو دېرشو کالو کښې دا رجحان ناڅاپه بدل شو او مونږ ميکالے د "پلګرمز پراګريس" په تعريفونو کښې مصروف وينو. او تر اوسنی زمانې پورې هم دغه رجحان دے او ګوس او سټوپ فورډ بروکس د جان بنيان په تعريفونو نه مړېږي. تنقيدی خيالاتو کښې د دې تبديلۍ وضاحت به مونږ څنګه کوؤ. دا د يو يا بل نقاد د ذاتی خوښې يا ناخوښې خبره نه ده بلکه په دې تبديلۍ کښې هغه ټول اثرات شامل دی چې يو نيم سل کالو کښې ئې ادبی طريقې او ذوقونه بدل کړه. د دې تبديلۍ ذمه وار د ادب نه بهر هغه ټول عوامل هم دی. چې د انګلستان د خلقو مذهبی او اخلاقی خيالات ئې بدل کړل او په دې طريقه ئې هغه اثرات پېدا کړه چې ادب ئې متاثره کړو. د ژوند او ادب شهود خپلو کښې يو تر بله داسې متعلق دی چې د جان بنيان په حقله د نقادانو په رائې کښې د دې تبديلۍ د وضاحت دپاره د انګرېزی ادب او انګرېزی سماج د دواړو د تاريخ د مطالعې ضرورت دے.

د تنقيدی رائې د ارتقاء دا تاريخ په دې طريقه د ادبی تخليق د تاريخ يوه حصه شي. مونږ د ټولې اتلسمې صدۍ د تنقيد د کلاسيکيت د دور نه د رومانيت د غلبې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر وخته پورې د ادبي تاريخ يوه حصه ګڼو. د اګسټن دور د مرکزي کردار اليګزنډر (پوپ) او د هغه د ادبي مقاصدو په حقله تنقيدي رائې کښې تدريجي تبديلي او بيا د دې رائې مطلق استرداد داسې څيزونه دي چې مونږ ترې د ارتقائي دور TRANSITIONAL PERIOD د تاريخ په سلسله کښې ډېر کار اخستے شو.

د دې ثابتولو دپاره داسې نور هم ډېر مثالونه پېدا کېدے شي چې تنقيدي تاريخ د ادبي تاريخ نه صرف يوه حصه ضميمه او تکمله وي بلکې زه خو به دا هم ووايم چې د ادب په حقله د تنقيدي رائې د بدلېدلو دا تاريخ د ادبي تخليقاتو يو ډېر اهم تفسير او تشريح هم وي. ادبي تاريخ کښې د تبديليو په أصولو د ځان پوهولو دپاره به مونږ خامخا د تنقيدي تاريخ نه استفاده کوو.

دلته د څنو اهمو خبرو تذکره ضروري ده. لکه چې ما مخکښې وئيلي دي. تنقيد طبعي طور سره قدامت پسند وي. نقاد عام طور سره د ماضي نه رهنمائي حاصلوي. د زړو لارو نه د بغاوت ملګرتيا ډېره کمه کوي. ځکه د تبديلۍ هر دور کښې د تخليقي او تنقيدي قوتونو تر مېنځه جګړه شوې ده. دا جګړه د هغه لوئي کشمکش يوه حصه ده چې د ژوند په هره شعبه کښې د اختيار او ازادۍ، جدت او روايت، انفراديت او قانون او د زوړ او نوي تر مېنځه هر وخت روان وي. ادب کښې هم د ژوند د نورو



مېدانونو غُندې کله د تنقيد وار وي چې خلق په زړو لارو چارو روان وي او کله د تخليق چې ناقراره تخليقي قوتونه د خپل ځان د اظهار دپاره نوي مېدانونه لټوي. تنقيدي رائې چې سخته شي او مذهبي عقيدې ته ورسي نو بيا څه نه څه "بدعتونه" داسې شروع شي چې په يو دور کښې که وکړلے شي نو بل دور کښې ورته د قانون درجه ورکړلے شي. ادب کښې هم لکه د ژوند د نورو شعبو که يو طرف ته د اختياراتو د ناجائز استعمال نه آمريت پېدا شي نو د ازادۍ غلط استعمال انارکي جوړه کړي. ادبي تاريخ نه دا ثابتېږي چې د تنقيد په وجه د ادب مفادو ته نقصان رسيدلے دے خو د دې دا مطلب نه دے چې تنقيد دې وغندلے شي. که د نقادانو منلے شوے وے نو نه به د شيکسپئير ډرامې وے او نه به روماني تحريک. خو د دې برعکس د دې نه به هيڅوک هم انکار ونه کړي چې که چرې د نقادانو د قانونونو خيال ساتلے شوے وے نو د شيکسپئير د ډرامو او د روماني تحريک ځنې ډېر نمايان نقائص به هډو پېدا شوي نه وو.

دا خبره ياد ساتل پکار دي چې د ادبي ارتقاء په سلسله کښې تنقيد بې د دې نه چې ادب ئې بې سره کېدو ته نه دے پرېښے يا ئې د ادب رهنمائي کړې ده نور خاص کردار نه دے ادا کړے. تنقيد نه خو څه محرکات پېدا کړي او نه جدتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنقید کله خو د یو نوی ادبی تحریک ملګرتیا کړي ده او کله کله ترې مخکښې شوے هم دے خو عام طور سره تخلیق مخکښې او تنقید ورپسې . او چې کله دا ترتیب بدل شوے دے نو نتیجې ئې ډېرې خوشګوارې نه وې خکه چې د یو خاص نظام او قانون مطابق تخلیق شوی ادب کښې به خامخا تصنع او آورد راځي. تر دې حده چې که یو شاعر نقاد هم وي او شاعر هم، نو د هغه شاعری به هغه وخت ښه وي کوم وخت چې دې د خپل مزاج او ذوق د اثر لاندې وي او دا خیال ئې نه وي چې زه د یوې نظریې د اثبات دپاره شاعری کوم. د ورډزورتھ ، آرنلډ او والټ وټ مین نومونه دې سلسله کښې د مثال په طور پېش کېدے شي. نو خکه عامه ادبی ارتقاء کښې به تنقید خامخا د تخلیق نه وروستو وي. د هر نوی ادبی تحریک به خامخا تنقیدی مخالفت کېږی. خو تنقید اخر کښې ځان نوی اُصولو او نوؤ نظریو سره اموخته کړی. او بیا د نقاد لویو فرائضو کښې دا هم شامل شي چې دغه نوی اُصول جمع کړی. د دغه اُصولو د بنیادونو تحقیق وکړی او د هغې تشریح شروع کړی.



## نُکتې

ا. د نقادانو تقابلی مطالعه.

ب. د لیکونکیو په حقله تنقیدی رائې کښې تبدیلی او د هغې جواز.

ج. د تنقید تاریخ د ادبی تاریخ حصه ده.

د. تنقید او تخلیق.

Pukhto.Net پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵

د تنقید منظمه مطالعه کښې چې د کومو خبرو خیال ساتل پکار دی د هغو په حقله ما ځنې معروضات پیش کړل اوس د تنقید عملی اړخ باندې بحث کول پاتې شو.

دې سلسله کښې دوه حقیقتونه نه شی نظرانداز کېدے. که یو طرف ته د ټولو جدیدو نظریو باوجود هم محاکمه تر اوسه د تنقید غرض ګڼل پکار دی نو بل طرف ته د دې محاکمې له کبله چې کومې نتیجې راوځی، هغه دومره متنوعې او غېر یقینی دی چې څه خاص فائده ترې نه ولاړېږی. د دې حقیقتونو په وجه که څوک دا وګڼی نو حېرانېدل نه دی پکار چې هر څو که نقاد ته په خپلې رائې د قائم پاتې کېدو حق دے او دا حق هم ورته شته چې څومره کولے شی خلق دې ځان سره په خپله رائې کښې شریک کړی، خو هغه د مانتیین په الفاظو کښې د هرې رائې دپاره هم د هغه وزن متضاده رائې هم وی. تنقید مجموعی طور سره یو داسې عمل دے چې خپل ځان پخپله منسوخوی او د ادبی قدرونو د جوړولو په سلسله کښې په هیڅ فائده نه شی راتلې د نقاد تحکیم او د محاکمې د



قابلیت په حقله خو هر څوک خبرې کوی خو لوئے سوال دا دے چې آیا نقاد په رښتونې معنو کښې حکم وی هم او که نه محض او محض یو "وکیل" وی.

په دې طریقه مونږ دې بحث ته راشو چې آیا ټول ادبی تنقید د ذریعې او نوعیت په لحاظ یو ذاتی شے وی او که نه؟ که زه د یو کتاب په حقله چې ما لُستلو یو رائې څرګنده کړم نو دا زما ذاتی رائې ده او بس. که یو بل سړے له ما نه متضاده رائې څرګنده کړی نو دا به د دوؤ لُستونکیو انفرادی رائې شی. که یو دریم لُستونکے راشی او د دې دوؤ کښې یو سره اتفاق وکړی یا دواړو سره اختلاف وکړی نو دا پرې دریمه انفرادی رائې شی. دا د تنقید په وړه پیمانه یو مثال دے. یو پېشه ور نقاد به پرې راپاڅی یوه خاصه ژبه او خاص اصطلاحات به استعمال کړی. د اُصولو معیارونو او حوالو یو انبار به ولګوی. خو دے به هم لکه د وړومبی لُستونکی د خپلې خوښې او ذوق نه ځان نه شی خلاصولے او د ده د دې تنقید اصلی منبع به هم هغه ذاتی خوښه وی. اوس سوال دا پېدا کېږی چې آیا تنقید د ذاتی خوښې او ناخوښې او د نقاد د خودسری او تلون د اعتراضونو نه بچ کېدے شی. آیا تنقید د ذوق ذاتی خوښې یا ناخوښې (چې د هر نقاد د ځُرت سره بدلېږی رابدلېږی) نه بغېر هم څه شے دے؟

پخپله په نقادانو کښې داسې ډېر خلق شته چې

Pukhto.Net پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی دا وائی چې مونږ که هر څو د اُصولو او معیارونو خبرې وکړو او د تنقید نه د ذاتی عنصر د لرې کولو هر څومره کوشش وکړو، تنقید بیا هم بنیادی طور سره یو داخلی او تاثری نوعیت لری. ځکه ښاغلے اینډرولینګ وائی چې د لُستلو قابل تنقید صرف هغه وی چې "د یو جدت پسند طباع او تعلیم یافته ذهن ردعمل د شهکارونو په حقله بیانوی". او د اناتول فرانس د وینا مطابق یو دیانتدار استاد له پکار دی چې د دې زړې خبرې چې "ښاغلیو! زه به نن تاسو ته د پیسکل، راسین یا شیکسپئیر پحقله څه وینا کوم". په ځائې دا ووائی چې "ښاغلیو! زه به نن تاسو ته د پیسکل، راسین یا شیکسپئیر په حقله خپل تاثرات بیانوم."

خو که مونږ لږ غور وکړو نو مونږ ته به ثابته شی چې په دې ذاتی تاثراتو او فیصلو کښې هم د قدروقیمت فرق وی ځکه چې دغو فیصلو کونکیو کښې هم د قدر و قیمت فرق وی.

هر لُستونکی ته دا حق دے چې د نورو خبرو غُندې د ادب پحقله هم خپله ذاتی رائې ولری. خو ادب کښې دا نه شی کېدے چې د یو لُستونکی رائې دې د بل لُستونکی د رائې سره په وزن کښې هم یو شان وی. د ښاغلی لینګ ډېرو ادبی خبرو او ډېرو ادبی رایو سره به سرے اختلاف وکړی خو دغه خبرې او رائې بیا هم د یو عام سړی د خبرو



او رایو نه د زیاتې توجه مستحقې وی ځکه چې دا د ښاغلی لینګ خبرې او رائې دی، چې هغه "یو طباع او تعلیم یافته ذهن" لری. دغسې که د ښاغلی اناتول فرانس په مقابله کښې یو بل سړے د پیسکل راسین او شیکسپئیر په حقله خپل تاثرات بیانوی نو مونږ به د اناتول فرانس خبرو ته ډېرې توجه سره غوږ ږدو. ځکه چې اناتول فرانس که مونږ ته هر څه وائی خو کم از کم مونږ په دې پوه یُو چې هغه د امتیازی بصیرت او پوهې خاوند دے او چې هغه مونږ ته کوم تاثرات بیانوی هغو کښې به دغه خاصیتونه خامخا وی. لارډ جیفرے د سکاټ په حقله یو مضمون کښې لیکی "هر کله چې د شاعری مقصد مُسرت ورکول دی نو یوه محفوظه وینا به دا وی چې هغه شاعری ښکلې وی چې د لُستونکیو ډېر تعداد ته په ډېر مقدار کښې مُسرت ورکوی" د لارډ جیفرے دا وینا د تردید دپاره هیڅ ثبوت ته اړه نه لری. دا کېدے شی چې سل کسان دې "ده ایبسنټ مائنډډ بیګر" ( THE ABSENT MINDED BEGGAR) خوښوی او صرف د یو لُستونکی "لسی ډاس" (LYCIDAS) خوښ وی. د دې دا مطلب نه شو چې دا سل کسان به د دې نه هغه نتیجه راوباسی کومه چې تړې لارډ جیفرے راوکښلې ده. زما په خیال به هیڅوک هم دا جرات ونه کړی چې د "بین تهم" ( BENT HUM) فلسفه دې په ادبی میدان کښې نافذه کړی. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامه خوښې يا شهرت دې د ادبي خوبيو معيار وګرځوي او دا دې وواٸي چې يو ادب پاره يا يو تصوير يا يوه نغمه دې په دې ښه وګڼلې شي چې د تعليم يافته کمو کسانو په ځاٸې د غير تعليم يافته ډېرو کسانو خوښه ده کوم خلق چې د ذوق د لامحدود "تنوع" قاٸل دی او دا واٸي چې د ډېرو خلقو خوښ څيز به خامخا ښه وي. هغوی له د تنوع کيفيت او نوعيت هم منل پکار دی او باٸده دی چې هغوی په تربيت يافته او غير تربيت يافته او ښه او بد ذوق کښې په فرق ځان پوه کړی ځکه چې:

*که از مغز دو صد خر فکر انسانے نمی آيد*

په ديو خبرو د غور په نتيجه کښې به يقيناً ځنې غلط فهمۍ چې د ادبي تنقيد په سلسله کښې پېدا کېږی لرې شي. دا صحيح ده چې دا خبرې په نقادانو کښې د اختلاف په مسئله څه رڼا نه غورځوی. په دې مسئله به مونږ اوس بحث کوو. خو ورومبے د ادب په باره کښې د خپلو ذاتي رويو په حقله څه وئيل غواړو.

لکه څنګه چې ما مخکښې عرض وکړو که زه د يو کتاب د قدروقيمت په حقله يوه راٸې ښکاره کړم نو دا محض زما ذاتي راٸې ده او بس. دا راٸې به زه لرم او پرې به قاٸم يم. که د دې راٸې څه اهميت دے نو صرف دا چې دا د يو سړی د ذاتي ذوق ردعمل دے. خو دلته يو سوال پېدا کېږی چې د هغه له رويه د انفرادی ذوق په دې



حقيقت يوه نوې رڼا پرېوځی. آيا ما چې د دې کتاب په حقله کومه راٸې قاٸمه کړې ده دا نه بدلېدونکې ده، زه ئې هم نه شم بدلولے؟ آيا دا يوه داسې راٸې ده چې ما دپاره مکمل طور سره مطمئن کونکې ده. زه وايم چې دې کتاب ما له خوند راکړو خوشحاله ئې کړم يا درد ئې راته راورسولو، او بس دغلته خبره ختمه شوه. خو آيا خبره رښتيا دغلته ختمېږی، نه هيچرې نه. لکه چې سينټ بو وئيلي دی اصلي سوال دا نه دے چې آيا دې کتاب مونږ له خوند راکړے دے. خوشحاله کړی ئې يُو، يا ئې راته درد رارسولے دے. بلکه اصلي سوال دا دے چې آيا مونږ دغه خوند اخستو کښې خوشحالېدو کښې يا زهيرېدو کښې په حقه وو او که نه؟ سوال يواځې دا نه دے چې د يوې ادب پارې نه مونږ څومره حظ حاصلولے شو بلکې سوال د دغه حظ د اخستلو د جواز هم دے.

زمونږ خپلې ذاتي خوښې ناخوښې وی او که د دوئ تجزيه وشي نو دا به څرګنده شي چې د دوئ جرړې په مزاج کښې دومره ژورې ننوتې وی او ذهني او اخلاقي عناصرو کښې چې کردار ترې جوړېږی، داسې انښتې وی چې قابو کښې ئې راوستل مشکل ښکاری نو لرې کول ئې ناممکن دی. ولې په دې خو هر څوک پوهېږی چې يو څيز خوښول يا زښتول يوه خبره ده او د دې خوښولو يا زښتولو په جواز مطمئن کېدل بالکل بيله خبره ده. اکثر خلق د

Pukhto.Net پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب مختلفو اصنافو سره خپل تعلق څه داسې ګڼي چې بس خپله ذاتي خوښه او خوشحالي دَ ادب دَ سنجولو اکې يو معيار شماري او ځان په دغه فرق نه پوهوي. خو دا فرق چې محسوس کړې شي نو بيا دَ غور او فکر دپاره ډېر وسيع مېدان پيدا شي. مونږ په دې ښه پوه يُو چې کوم وخت مونږ دَ خپلې ذاتي خوښې يا ناخوښې په رڼا کښې په يو کتاب رائې ښکاره کوؤ او دا ذاتي خوښه نه سنجوؤ نو مونږ دَ کتاب نه زياته دَ خپل ځان په حقله رائې ښکاره کوؤ. په دې صورت کښې دَ ذاتي تاثراتو په حقله دَ اناتول فرانس هغه رائې بالکل معقوله ده. خو مونږ په دې هم پوهېږو (هر څو که دَ دې اعتراف دپاره لږ جرات پکار دے) چې په داسې رائې کښې مونږ خپلې کمۍ او خامۍ هم ښکاره کوؤ. مونږ دَ يو ادب پارې خوبۍ هغه وخت هم منو چې مونږ ترې حظ نه شو حاصلولے. داسې کېدے شي او هر وخت کېږي چې يوه ادب پاره دَ خپلو خوبيو په وجه مونږ ته خوشحالي، خوند يا درد راکولو کښې ناکامه شي يا کله کله دغه ادب پاره مونږ له زړه سترے کړي او مونږ ترې نفرت کول شروع کړو ځکه چې دَ ادب دَ عظمت نه حظ حاصلول ډېر محنت کار دے. او دا کېدے شي چې دَ خپلې ناراستۍ، بې التفاتۍ يا دَ محنت دپاره دَ نه تيارېدو په وجه يا خو مونږ دَ دغه محنت کولو دپاره رضا نه يُو او يا دَ خوارۍ کولو قابليت نه لرو او مونږ دا ښه وګڼو چې



هغو کمترو او ټيټو څيزونو ته توجه ورکړو چې دَ خپلې کمترۍ او ټيټوالي له کبله دَ پوهېدو او حظ اخستلو دپاره لږه خوارۍ او لږ محنت غواړي. ولې که مونږ ادبي کلچر ته ژوند کښې څه سنجيده اهميت ورکوؤ، نو مونږ به محض دَ دې کمترو څيزونو په توجه او لُستلو ځان نه مطمنن کوؤ. اوس که مونږ دا عادت جوړ کړو چې دَ خپلو لُستلو شوو کتابونو پحقله دوباره غور کوؤ او دا اراده کوؤ چې ځان به دَ هغو جذباتو نه چې دَ کتاب دَ مطالعې په وخت کښې مونږ کښې راپيدا شوي وي، لرې کړو نو دا ممکنه کېدے شي چې مونږ په دغو جذباتو تنقيدي نظر واچوؤ. دَ دغو جذباتو جائزه واخلو او دا فېصله وکړو چې آيا مونږ په دې مطمنن يُو چې دغه جذبات صحيح وو. او آيا مونږ چې کوم حظ دَ دغه کتاب نه حاصل کړے دے هغه په صحيح طريقه دَ ښو څيزونو نه اخستل پکار وو او که نه؟ يو بل معيار هم شته او دا هغه معيار دے چې سوونه کاله اګاهو لان جائے نس تجويز کړے دے. دَ لان جائے نس دَ تجويز مطابق چې کوم کتاب مونږ دَ ډېر وخت دپاره لُولُو، خو دَ هغه کتاب په حقله دَ ډېر کم وخت دپاره مونږ فکر کولو ته مائل کېږو او دغه کتاب دَ مطالعې دَ وخت نه زيات خپل اثر زمونږ ذهن کښې نه شي قائم پاتې کولے نو پکار دا دی چې مونږ دا يقين وکړو چې که هر څو مونږ دَ دغه کتاب نه ډېر حظ اخستے دے بيا هم دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب دَ معمولي درجې کتاب دے. په دې طريقه مونږ ته دا صداقت روښانېږي چې زمونږ ذاتي حظ او دَ ذاتي حظ په حقله زمونږ محاکمه جدا جدا څيزونه دي دا کېدے شي چې دا دواړه څيزونه کله کله خپلو کښې متفق شي خو دا هم کېدے شي چې کله کله پکښې اتفاق را نۀ شي. او چې کله پکښې اتفاق رانۀ شي نو پکار دا دي چې مونږ خپل فرض دا وګڼو چې دَ ذاتي حظ محاکمه په ذاتي حظ مقدمه کړو. او په دې سلسله کښې منظم کوشش وکړو. دا خيال لرل چې مونږ دَ خپلې خوښې او ناخوښې لکه چې څنګه دي دغسې قبولې کړو او يا دَ دغو خوښيو او ناخوښيو لاندې ادبي رائې قائموؤ. دا مطلب لري چې مونږ دې دَ تنقيدي قوت، بصيرت او خيرنې دَ ترقي په حقله ټول اميدونه قطع کړو. په ادب کښې لکه دَ ژوند دَ نورو شعبو مونږ ته دَ دې خبرې ډېر زيات ضرورت دے چې مونږ دې خان له دَ حظ حاصلولو په فن کښې تربيت ورکړو. اوس دا خبره واضحه ده چې تر څۀ حده پورې مونږ مجبور يُو چې د خپلو جذباتو نه بهر او دَ دې جذباتو دَ اثر نه آزاد څۀ داسې معيار تسليم کړو چې پرې دَ قدروقيمت اندازه ولګوؤ. زمونږ لوئے مقصد دا پکار دے چې دَ مطالعې په وخت کښې دغه معيار دَ نظر لاندې وساتو خپلې غلطۍ او کمۍ ومنو او دَ زړۀ دَ اخلاصه هغو څيزونو ته غاړه کېږدو، چې مونږ ئې دَ ډېرې توجه مستحق وګڼو او خان



ورو ورو دَ دغو څيزونو سطحې ته وچتوؤ او دغسې دَ خپلې محاکمې او دَ ذوق روزنه او تربيت وکړو، چا چې دَ دې مقصد لاندې مطالعه کړې ده او ورته دَ دې نتيجو تجربه شوې ده هغۀ به دَ دې نه انکار ونۀ کړي چې هر څو کۀ دا ډېر لوئے دَ محنت کار دے خو ولې دَ دې محنت عوض هم ډېر زيات وي.

اوس دَ نقادانو په خپل مېنځ کښې دَ اکثرو خبرو په حقله دَ اختلاف مسئله دَ غور کولو دپاره پاتې ده. مونږ تر اوسه دَ تنقيد په حقله دغه انتها پسنده نظريه چې "تنقيد يو خان منسوخونکے عمل دے" په زړۀ کښې منو او دا وائيو چې دَ تنقيد ټول تاريخ دَ جګړو، تضادونو، دعوؤ او ترديدونو دَ معيارونو دَ جوړولو او دَ ماتولو تاريخ دے. خو آيا زمونږ دا وېنا صحيح ده؟ آيا په ادب کښې دَ محاکمې نتيجې رښتيا هم هغه هومره متنوع، غېر يقيني او بې فائدې وي لکه چې عام طور سره وئيلے شي يا لکه چې عام طور سره په ظاهره ښکاري؟ دَ دې خواب دا دے چې هر څو کۀ دَ تنقيد پۀ حقله دغه انتها پسنده نظريه کښې تر څۀ حده صداقت شته، ولې کُلي صداقت نۀ لري. دا صحيح ده چې دَ تنقيد دَ افاديت برخلاف ډېر دليلونه پېش کېدے شي، خو ولې دا حقيقت هم دَ هېرولو نۀ دے چې کۀ يَو خوا تنقيدي تاريخ دَ ذوق دَ بدلېدو او دَ تنقيدي فېصلو دَ اوړېدو راوړېدو، واقعاتو او په بنيادي ادبي خبرو کښې دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



متضادو رايو او وېنا ګانو مثالونه پېش کوي. نو بل خوا په نقادانو کښې دَ مخصوصو شهکارونو دَ قدروقيمت پحقله دَ رائې مکمل اتفاق مثالونه هم ښيي. که تنقيدی رايو کښې اختلاف په ګوته کېدے شي او دَ هغه اختلاف په بنياد لويې لويې دعوې جوړېدې شي، نو په دغو رايو او وېناګانو کښې اتفاق او يووالے هم دَ نظر نه لرې کول نه دی پکار.

په تنقيدی رائې کښې دَ دې اتفاق دَ معنٰی لټولو دپاره مونږ ته غور پکار دے. فرض کړئ چې ما دَ يو کتاب په حقله يوه رائې قائمه کړه اوس دَ دې رائې دَ اصلاح يا توثيق دپاره زه کوشش کوم او په دې سلسله کښې زه دَ بل چا دَ مدد ضرورت محسوس کړم او دا کتاب شپږو دوستانو ته پرله پسې په دې غرض ورکړم چې دوئ ما دَ خپلې ديانتدارانه رائې نه خبر کړی او دا دوستان هم داسې وی چې ما ئې محض دَ دې دپاره چې زما دا تجربه زياته وسيعه او حقيقت ته ډېره نږدې شي، داسې انتخاب کړی دی چې هر يو په کښې دَ مزاج، دَ ژوند او ادب په حقله دَ خيالاتو او دَ طبيعت دَ تربيت په لحاظ دَ د بل نه مختلف وی او سره دَ دې هم زه دَ هر يو دَ رائې قدر کوم. دا شپږ دوستان چې ماته کومه رائې راکړی نو ډېر امکان دَ دې خبرې دے چې دا شپږ واړه رائې خپلو کښې مختلفې وی او سبوا له دې نه چې دَ انفرادی ذوق دَ اظهار



په حېثيت زما څه مدد وکړی نور څه فائده ترې ما ته نه شی حاصلېدې. خو فرض کړئ چې په دې شپږو رايو کښې چې دَ نظر دَ مختلفو زاويو په نتيجه کښې راپېدا شوی وی پينځه رائې په خپلو کښې دَ اختلاف باوجود هم عملی طور سره دَ کتاب دَ قدروقيمت په محسوس کولو کښې يو وی او دَ موضوع او اسلوب په يو شان خاصيتونو باندې پکښې زور اچولے شوے وی. نو په دې صورت کښې به زما دا احساس بالکل صحيح وی چې تر څه حده پورې دَ محض شخصيت او دَ طبيعت دَ مېلان عناصر دې رايو نه خارج شوی دی او چې څومره په دې خلقو کښې دَ ذوق دَ زيات اختلاف سره په رايو کښې زيات اتفاق وی دومره به زما دا احساس هم شديد وی. دَ هغه بل شپږم چې دوئ سره ئې اختلاف کړے دے دَ رائې به هم زه دَ دوئ هومره قدر کوم. خو چونکې دَ هغه برخلاف دَ دغو پينځو تنو دَ رايو وزن وی، نو ځکه به زه صرف هغه يو اختلاف کونکے وګڼم او ډېره اغلبه دا ده چې زه به دَ هغه په رائې چرته فارغ وخت کښې دا غور وکړم چې دَ ده دَ عدم اتفاق وجه څه ده؟ دلته به زه صرف دَ رائې دَ اتفاق په اُصولو کار شروع کوم او که دغه متفقه رائې زما دَ خپلې رائې سره مخالفه وی هم به زه دا ګڼم چې دا متفقه رائې دَ کتاب دَ خوبيو په حقله دَ رهنمايي کولو قابله ده.

دَ دې مثال نه مونږ په کومه نتيجه رسو. دَ دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره دَ څه خاص دلیل یا ثبوت ضرورت نشته، کومه تجربه چې ما په وړه پیمانه وکړه دا په حقیقت کښې په لویه پیمانه شوې ده او هغه خلقو دَ چا نه چې دَ باهمی اختلاف طمع کېږی په ډېرو معاملو کښې یوه متفقه رائې ښکاره کړې ده.

دَ دې مطلب دا شو چې دَ ادب دَ یو خاص مقدار په حقله دَ رائې ورکولو په باره کښې خو نه اوس مونږ صرف دَ انفرادی ذوق فېصلو ته پاتې شُو او نه دَ متصادمو نظریو تضادونو ته. دَ دې په ځائې اوس مونږ نه صرف دَ مختلفو کردارونو او علمی قابلیت بلکې دَ مختلفو قومونو، عهدونو او نظریو دَ نقادانو تر مېنځه دَ رایو اتفاق بیاموندو او دَ دغه اتفاق په مقابله کښې نور اختلافات څه خاص ځائې نه لری دَ دې نتیجه څه شوه؟ داسې ادب په کراتو دَ مختلفو او متنوعو ذوقونو دَ امتحان نه تېر شوے دے او هر نوی امتحان دَ دې ادب څه نوې ښکلا او پټ ښائست رابرڅېره کړے دے چې ذوقونو کښې دَ انقلابی تبدیلیو باوجود هم دې ادب خپل مقام بیلودے نه دے او دَ تنقیدی خاندانونو دَ عروج او زوال نه دا ادب هیڅ متاثره شوے نه دے. ځکه دَ دې ادب خوبی اوس مَحض ذاتی رائې ته پاتې نه دی. دَ دې عظمت منلے شوے دے. ځکه چې دَ داسې استقلال او دوام او دَ داسې دائمی او مستقل اثر وجه صرف عظمت کېدے شی.



ځکه دَ ادب په تاریخ کښې دَ زبردست اهمیت هغه خبره چې هیوم ورته دَ داسې کتابونو چې دَ وخت زمانې او طریقو تلون پرې څه اثر نه وی کړے او دَ جهالت او حسد باوجود هم ژوندی وو، مستقله ستائنه وائی. مونږ له تسلیمول پکار دی. دَ ایلیډ او اوډیسی مثالونه دلته بالکل په ځائې دی. هغه هومره چې دوه زره کالو اګاهو دَ ایتهنز او روم خلقو خوښولو نن هم په پېرس او لندن کښې مقبول دے. دَ آب و هوا، حکومتونو، مذهبونو او ژبو په تبدیلی دَ هغه شان کښې څه فرق رانغلو. دا الفاظ په ۱۷٤۲ کښې ونیلی شوی وو. خو حقیقت لا تر اوسه هم هغسې دے لکه چې دَ هیوم په ورځو کښې وه. دې نظمونو کښې دَ لُستونکیو نه فانی کېدونکې دلچسپی دَ دویٔ دَ عظمت او برتری ثبوت دے او هم دغه خبره دَ یونانی ډرامې، دَ شیکسپئیر دَ ډرامو او دَ دانتے او دَ ملټن دَ تخلیقاتو په حقله هم صحیح ده. داسې کتابونه مونږ "کلاسیک" ګڼو ځکه چې دَ کلاسیک ساده تعریف دا دے چې هر هغه کتاب چې دَ وخت دَ امتحان نه تېر شوے وی او دَ خپل استقلال او دوام او دَ آفاقی او دائمی زړه راکښون له کبله د خپل غېر فانی ژوند ضمانت ورکوی.

په دې ډول مونږ دَ ادبی تنقید هغه اُصول ومنو چې ورته "کواډ اُبیکو کواډ سیمپر کواډ اویب اومنی بس" Quod ubique quodsemper quod abomnibus وائی لکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لان جائے نس وائي. "مونږ له عام طور سره هغه الفاظ په ربښتونو معنو کښې وچت او اعلی (نوبل او سبلائم) منل پکار دی چې هغه هر چا له هر وخت خوشحالی ورکوی. ښکه چې که یو کتاب پخپلو ټولو لُستونکیو کښې یو شان تاثر پېدا کوی. هر څو که دَ دغو لُستونکیو پېښې، دَ ژوند طریقې، دَ هغوی ارمانونه او مقصدونه، دَ هغوی عهدونه یا ژبې بیلې بیلې او بدلې وی هم نو دَ داسې مختلفو لُستونکیو اجماع دَ دغه کتاب په حق کښې ظاهره شوې رائې نوره هم مضبوطوی".

زه دَ افاقیت دَ دې اُصولو دَ معنو وضاحت دپاره تفصیل نه پیش کوم او نه دې افاقیت سره څه داسې شرطونه تړل غواړم چې دَ هغو مطلب دا وی چې دَ دې افاقیت په بنیاد کښې کوم صداقت پروت دے هغه دې دَ خپلې غلطې نظریې سره خلط ملط نه شی چې مونږ ئې اوس ذکر وکړو او مطلب ئې دا وه چې دَ ادب دَ قدوقیمت اندازه په لُستونکیو کښې دَ مقبولیت په بنا لګول پکار دی. دلې یوه نکته ډېره توجه غواړی. ادب کښې دا کوم افاقیت چې مونږ اوس بیان کړو دَ دې دَ ټولو نه لوئے خصوصیت هغه طاقت دے چې ادب ته غېر فانی ژوند او دوام بخښی. خو دَ دائمی ژوند دا طاقت په هغو خوبیو منحصر دے چې هغه دَ فوری او عام مقبولیت ورکونکیو خصوصیاتو نه بالکل جدا وی. دا حقیقت ښې اهمې



نتیجې پیدا کوی.

دَ ژوند په هره شعبه کښې دَ بقا دپاره چې کوم جدوجهد کېږی دَ هغې لازمې نتیجه دا وی چې کوم څیز دَ باقی پاتې کېدلو ډېر استحقاق لری هغه پاتې شی او نور ورک شی. دې ته دَ "بقائے بهترین" اصول وائی. په دې جدوجهد کښې دَ هر وجود بقا هله ممکنه ده چې دغه وجود Organism خپل ماحول سره دَ تللو او دَ ځان بدلولو استعداد لری. هر کله چې یو وجود دَ بدلېدونکی ماحول سره خپل ځان بدلولو کښې پاتې راشی نو تباه او ورک شی څومره چې یو وجود وچت او ارفع وی دومره به هغه کښې دا استعداد زیات وی دا دَ علم حیاتیات ډېر مشهور صداقتونه دی او زه ئې محض دَ دې دپاره ذکر کوم چې دَ دې صداقتونو دَ بقا سره او ښکه ادب کښې هم دَ بقائے بهترین دَ مسئلې سره تعلق دے. یو کتاب هم لکه دَ یو وجود په اول اول کښې محض په دې وجه کامیابېږی چې دَ خپل ماحول سره مطابقت لری. په بدلو الفاظو کښې به مونږ دا ووایو چې دا کتاب دَ هغه زړه راښکون په وجه کامیابېږی چې دغه کتاب کښې دَ هغو لُستونکیو دپاره وی دَ کومو دپاره چې دا لیکلے شوے وی. او دَ دې کتاب دَ فوری مقبولیت او کامیابۍ اندازه دَ هغه دلچسپی او زړه راښکون نه لګول پکار دی کوم چې دے پیدا کوی. یو کتاب چې ډېرو لُستونکیو له خوند ورکوی نو دا ښکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دَ عوامي ذوق مطابق وي. دَ هغه وخت دَ ذوق اظهار هم کوي او دَ هغه څيزونو متعلق وي چې عوام پرې فکر او بحث کوي او کتې متې داسې وي چې عوام ئې لُستو ته نه صرف بالکل تيار وي بلکې خواهشمند ئې هم وي. خو دا هم کېدے شي چې فوري مقبوليت او کاميابي ورکونکے دا مطابقت محض هغو حالاتو سره مطابقت وي چې عارضي او مقامي حېثيت لري. که داسې وي نو چې دا چپه تېره شي او عوام په هغو څيزونو کښې چې دَ دوئ په ذکر او فکر غالب وو دلچسپي اخستل پرېږدي نو کتاب زوړ او متروک شي او بيا ئې څوک نه لولي. او ډېره اغلبه ده چې که بيا دَ دغه کتاب سره څوک څه کار هم لري نو هغه دا چې دوئ په هغه جوش و خروش حېراني ظاهروي کوم چې دوئ په اول کښې ښکاره کړے وه. هره فن پاره به چې محض دَ خپل وخت پېداوار وي. خامخا ژر وي که پس هم په دغه وجه ورکېږي خکه چې دا دَ کوم مذاق او طريقو نه روزنه مومي دَ هغو دَ ختمېدو نه پس چې دې کښې دا خوبي پاتې نه شي چې نوي مذاق او طريقو سره وچلېږي نو دا هم ختمه شي. په دې طريقه هم هغه وجه چې دې لره ئې مقبوليت ورکړے وه دَ دې دَ مرګ باعث وګرځي. او داسې ډېر کتابونه شته چې څه وخت ډېر مقبول وو خو ورپسې راتلونکی نسل هډو پېژندل هم نه. ولې ځنې داسې کتابونه هم شته لکه چې ما ئې مخکښې ذکر وکړو چې په هغو



کښې دا خوبي ده چې دَ طريقو، ذوق او تېر دې حده چې دَ تهذيبونو تبديلي هم دَ هغوی ژوند متاثره نه کړو او تر اوسه ژوندی دی دا ولې؟ دا خکه چې دغو کتابونو کښې دا استعداد وه چې زمونږ دَ اخلاقي او ذهني ژوند هر وخت بدلېدونکيو حالاتو سره خان بدل او برابر کړي. دېو کتابونو کښې دَ خپل عهد دپاره هم يو پيغام او معنیٰ وه او زمونږ دپاره هم پکښې پېغام شته. دا کتابونه به هم تر څه حده دَ خپل وخت پېداوار وو او څه خو پکښې يقيناً وو خو دَ دوئ دَ دې دائمي ژوند سبب دا نه دے چې دوئ دَ خپل وخت سره مطابقت لرلو بلکې سره دَ دې هم چې دَ خپل وخت پېداوار وو دا کتابونه ژوندي پاتې شول دَ دوئ دَ دې دائمي ژوند وجه دا ده چې هر څو که دوئ مقامي او عارضي دلچسپي لرلې بيا هم په دوئ کښې هغه عناصر موجود وو چې دَ دې مقامي او عارضي زړه راښکون دَ ختمېدو نه پس ئې هم دَ خوشحالولو او متاثره کولو قوت لرلو. او دلته دَ حياتياتي شهود او ادبي شهود تر مېنځه يو والے جزوي طور سره ختم شي خکه چې کوم ادب دَ طريقو او ذوق او دَ تهذيبونو دَ بدلېدو باوجود هم ژوندے پاتې کېږي نو دَ هغې وجه دا نه وي چې دغه ادب خان دَ ژوند، فکر او وېنا نوؤ طريقو سره بدل کړي. بلکې دَ ابتدا نه هغه څيزونه چې انساني تجربې او فطرت کښې بنيادي حېثيت لري ده کښې شامل وي او ده ورسره خان برابر کړے وي. او داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ادب دَ زمان او مکان دَ قېد نه وچت حالاتو سره دَ برابرېدو استعداد لري. دا يقيني خبره ده چې داسې ادب هغو خلقو پېدا کړے وه چې بغېر دَ يو څو کسو نه پکښې دَ هيچا هم راتلونکيو نسلونو ته يا دَ ژوند هغو څيزونو ته چې دائمي او مستقل وی فکر نۀ وه بلکې ټوله توجه ئې دَ خپلې زمانې اولس، حقيقتونو او مسائلو ته وه. ځکه دَ داسې ادب په جوړښت کښې اکثر عارضي او مقامي عناصر داخل شوی دی ولې دَ دې کتابونو يو خصوصيت دا دے چې دوئ کښې مقامي او عارضي مضامين هم په داسې بصيرت او استاذی تړلی شوی دی چې دوامي او افاقي حېثيت ئې اختيار کړے دے. دَ هيروډوټس په حقله وئيلے شی چې هغۀ کښې دا استاذی وه چې هغو څيزونو کښې ئې دلچسپی اخسته چې درويشتو سوؤ کالو پورې دَ خلقو دلچسپی پکښې قائمه وه. دا خبره صرف دَ تاريخ دَ دې باني په حقله صحيح نۀ ده بلکې دَ هغو ټولو ليکونکيو په حقله رښتيا ده چې دَ دائمي ژوند کتابونه ئې ليکلی دی. ځکه چې دَ دوئ دا کتابونه نۀ دَ دې وجې نه دَ زمانې سره زاړۀ شو او نۀ ئې تنوع دَ کثرت استعمال په وجه ختم شو چې دوئ پکښې دَ هغو څيزونو بيان کړے وۀ، چې افاقي او دائمي طور سره زړۀ راښکون لري. دوئ دَ خپل بصيرت، پوهې او زور دَ اظهار دپاره هغه څيزونه منتخب کړی وو چې هغه هر وخت او هر ځائې کښې دَ



انساني ژوند مشترک بنيادونه دی لکه انساني تجربې اغراض، جذبې، کشمکش، خوشحالي او غم وغېره، کوم څيزونه چې عارضي وی، يعنې هغه څيزونه چې دَ ژوند بهرني پيکر او دَ هغه زمانې او معاشرې حالاتو سره تعلق لری چې دے ترې پېدا شوے وی نو داسې څيزونه به په يو عظيم کتاب کښې هم مونږ دپاره هم هغسې زړۀ راښکون لری لکه چې هم دغه څيزونه په هره بله ادب پاره کښې زمونږ دپاره لری. خو ولې چې هرکله مونږ دَ دې عارضي څيزونو دَ لاندې ژور لاړ شو نو مونږ به په دې پوه شو چې دَ دې کتاب دَ غېر فاني ژوند وجه دَ ژوند ضروری او پائيدار څيزونو سره دَ چلېدو دَ استعداد قوت دے چې دا کتاب ئې لری. مونږ چې دَ ايوب عليه السلام کتاب، ډيوائن کامېډی، پيراډائز لاسټ، دَ هومر نظمونه او دَ شکسپيئير ډرامې لُولُو او دې ته ګورو چې بغېر دَ ژوند دَ ضروری او پائيدارو څيزونو نه زمونږ او دَ دوئ ترمېنځه څومره فاصله ده نو مونږ ته دا رامعلومه شی چې دَ دنيا په عظيم ادب کښې هغه کوم شے دے چې دَ وخت دَ تباه کونکيو اثراتو نه ئې دا ادب بچ ساتلے دے.

په ادب کښې دَ بقائے بهترين په دې مسئله دَ دې طويل بحث په رڼا کښې مونږ له پکار دی چې په دې پوه شو چې داسې ادب په يو لوئے مقدار کښې شته چې هغه دَ ذاتي رائې دَ حدودو نه بهر ګڼل پکار دی او چې عظمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې منلې شوې دې.

دَ ادب دَ عظمت یعنې دَ ادب دَ پائیدارۍ او دوام دَ سوال ځواب خو دَ وخت امتحان ته پرېښول پکار دی خو دَ هغه ادب په حقله به مونږ څه وایُو چې لا دا امتحان به پرې نه وی تېر شوې. مونږ دا پېشګوئی نه شو کولې چې دَ وخت دَ امتحان نتیجه به څه وی او نه په یقین سره دا وېنا کولې شو چې دا کوم کتاب چې اوس ډېر مشهور دې که لکه دَ شکسپئیر دَ ډرامو درې سوه کاله پرېښودې شی نو بیا به ئې څه حال وی. ولې دَ عارضی او دائمی دلچسپۍ تر مېنځه بېلتون خو ممکن دې او مونږ دَ وختی کامیابۍ او دَ هغه کامیابۍ چې دَ پائیدارۍ امکانات لری ترمېنځه فرق خو کولې شو. دا وېنا لږه ګرانه ده چې کوم څیز مونږ دپاره شدید زړه راښکون لری هغه به زمونږ دَ زمانې نه پس دا زړه راښکون بائلی. خکه چې نن مونږ ته کوم څیز ضروری ښکاری هغه به مونږ خامخا افاقی او دائمی ګڼو. نو له دې کبله مونږ دَ ماضی قریب دَ ادب او دَ خپل معاصر ادب په سلسله کښې بیا هغه خپلې رائې او دَ نقاد رهنمایۍ ته پاتې شو. ولې دا خبره یاد ساتل پکار دی چې داسې ادب چې هغه دَ هغه ژوند نه زرغونېږی چې مونږ ئې تېروؤ دَ ماضی دَ عظیم ترین ادب نه بالکل مختلف زړه راښکون لری. او دا زړه راښکون په ځنو حېثیتونو کښې ډېر ژور او ډېر تېز وی. هغه کتابونه هم



چې محض عارضی حېثیت لری زمونږ توجه ځان ته راکاږی خو هر څو که مونږ دَ خپلې زمانې ادب کښې دَ دلچسپۍ په اخستلو کښې په حقه یُو بیا هم زمونږ فرض دا پکار دی چې دَ دې خبرې بنیادی اهمیت تسلیم کړو چې مونږ له دَ نوې زمانې کتابونه دَ اضافی اقدارو په رڼا کښې لُستل پکار دی او زمونږ خواهش همېشه دپاره دا پکار دې چې تر څو ممکنه کېدې شی په اصلی او جعلی ادب کښې فرق وکړو.

او دلته زما دا خیال دې چې دَ کلاسیکی ادب علم مونږ ته ډېر لوئې عملی مدد راکولې شی. که چرې په دغه ادب کښې مونږ ادبی عظمت موندې او تسلیم کړې وی او که چرې په دې وجه دا ادب یوه درجه او پایه لری نو پکار دی چې مونږ ئې دَ معیار په حېثیت استعمال کړو. دَ دې نه زما مقصد دا نه دې چې مونږ دې کلاسیکی ادب په هغه طریقه معیار وګرځوو په کومه سخته او درشته طریقه چې دَ اوولسمې او اتلسمې صدۍ انګرېزی نقادانو یونانی او لاطینی کلاسیکی ادب معیار ګرځولو او نه زما مقصد دا دې چې مونږ دې دغه کلاسیکی ادب نه دَ قواعدو او قانونونو دَ راوېستلو کوشش وکړو. زه دا هم نه وایم چې مونږ دې دَ طبعزادۍ Originality او تجربو دَ مخالفت دپاره یا دَ دې دپاره چې دَ خپلې زمانې دَ ادب لارې متعینې کړو. دغه کلاسیکی ادب بې ځایه استعمال کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دَ دې وېنا نه دا نتيجه راوکښل چې ګني دَ ماضي عظيم ترين ادب دې دَ جديد او دَ مستقبل دَ ادب دپاره دَ نمونې په طور استعمال کړے شي. زما دَ هغو دلائلو روح سره سمون نه خوري چې ما په دې مقاله کښې پېش کړي دي. زما دا دعویٰ ده چې رښتينے ادب هغه وي چې هغه دَ بل ادب نه، نه بلکې دَ ژوند نه پېدا شوے وي او دَ ساهو او دَ ژوندي ادب دپاره به يوه نمونه هم کافي نه شي. که يو خوا ته مونږ له دَ هم عصر ادب په حقله دَ عوامو او بې انصافو نقادانو په مبالغه آمېزو بيانونو تکيه نه دي کول پکار نو بل خوا مونږ له دا هم ګڼل نه دي پکار چې بس ادب کښې چې څه وو هغه وشو او زمونږ وخت او وطن کښې به بل ادبي پېغمبر نه پېدا کېږي او دَ کلاسيکي شهکارونو نه پس نور ادب پېدا کېدل ناممکن دي. زه چې دا وايم چې مونږ دا مستند شهکارونه معيار ګرځولے شو نو زما مقصد فقط او فقط دا دے چې څونکې دَ دې شهکارونو خوبۍ اوس يو حقيقت شوے دے او څکه چې دَ دوئ عظمت منلے شوے دے. مونږ دَ دوئ دَ تجزيې نه کم از کم هغه څيزونه راوکښلے شو چې دَ ادب دَ عظمت او ښکلا اجزا دي. او په دې طريقه حاصل شوے علم هم دَ دغه قسم دَ ادب دَ خيرلو دپاره په عملي طريقه استعمالولے شو. داسې مونږ به بيا هغه نکتې ته چې ذکر ئې تېر شو راورسو او هغه دا چې په يو نظم، ډرامه، يا



ناول دَ محاکمې کولو دپاره يا دَ دغو څيزونو اصلي خوبۍ کتلو دپاره دا ضروري ده چې سړے دې دَ دنيا دَ بهترينې شاعرۍ عظيمو ډرامو او ناولونو ژور علم لري. مونږ چې دا تقابلي مطالعه کوؤ نو دا هيڅ ضروري نه ده چې مونږ دې دَ دې دپاره څه رسمي طريقې اختيار کړو. زمونږ ټوله دلچسپي دَ تورو په ځائې په روح او مغز کښې پکار ده او مونږ دپاره دا کافي ده چې ځان پرې پوه کړو چې دَ عظيم او ښه ادب سره زمونږ پېژندګلو به زمونږ دَ ښه او بد احساس تېزوي. دَ ميتهيو ارنلډ دَ شاعرۍ په سلسله کښې د محک نظريه Touch Stone. هغه نظريه چې دَ هغې ماتحت مونږ له دَ منتخبو شعرونو او جملو په ذريعه په ادب دَ وچتې فنکارانه خوبۍ موجودګي يا غېر موجودګي خيرل او هره شاعري دغه معيار ته مخامخ کول پکار دي که هر څو عجيبه عجيبه ښکاري ولې دَ دې لاندې چې کوم خيال دے هغه بالکل درست او نتيجه خېز دے دَ ښکلا دَ معيارونو او دَ قانونونو په حقله مجردې نظريې زمونږ ذوق او خوبيو سره بلدولے او زمونږ محاکمې دَ دغو خوبيو دَ محسوس کولو دپاره روزلے نه شي. بلکې دَ دې دپاره پکار دا ده چې مونږ تر څومره حده چې ممکنه وي او په څومره اخلاص چې ممکنه وي ځان دَ دنيا دَ عظيم ادب سره بلد کړو.

څومره چې دَ ادب دَ خيړنې دا مسئله ګرانه ده، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره سطحي طور سره چې مونږ پرې بحث کوو نو دَ لُستونکیو طمع به دا وی چې کم از کم اخر کښې خو به مونږ په څو مثبتو نتیجو ورسو.

یو فرانسیسی نقاد ونیلی دی چې دَ تنقید رښتینے مقصد دا دے چې ادب دَ دې ظالمانه خیال نه ازاد کړی چې دَ ذوق په حقله هډو جګړه پېدا کېږی نه. دَ دې مقصد حصول ډېر ناممکن ښکاری. تنقید سائنس کېدے نه شی مونږ دې نه دَ علم نباتات داسې قسم هیڅکله نه شو جوړولے چې دَ هغې تعلق انسانی تخلیق سره وی. مونږ دَ ارنلډ غُندې ځیزونه هغسې لیدل غواړو لکه څنګه چې وی خو دا تشې خبرې دی ځیزونه لکه څنګه چې دی هغسې لیدل ناممکن دی. ځکه چې مونږ هر شے په خپل ذهن کښې وینو او ذهنونه او مزاجونه یو شان نه وی. مونږ به خامخا دا ځیزونه دَ خپلو مزاجونو او کردارونو په ماحول کښې وینو. مونږ زیات نه زیات دا کولے شو چې دَ خپلو ذهنونو نه تعصبات لرې کړو او خپلې همدردی، رجحانات او مېلانات سمولے شو او بس. ادب دَ شخصیت نه پېدا کېږی او شخصیت باندې اثر اچوی او ډېرو موضوعاتو سره په مختلفو صورتونو کښې خپل تعلق څرګندوی. دَ ادب هډو مقصد دا دے چې همدردی پېدا کړی او جذبات او احساسات راولړزوی. په دې طریقه دَ ادب تعلق بدلېدونکیو عناصرو سره وی او ځکه دَ دې رد عمل کښې هم تنوع



پکار دے. مونږ دَ تنقید نه انفرادی عناصر نه شو وکښلے او مونږ له پکار دی چې هغه فرقونه او اختلافونه قبول کړو چې په یو شهود دَ ډېرو ذهنونو دَ کار کولو په نتیجه کښې پېدا کېږی. دا بده خبره نه ده بلکې ښه ده ځکه چې په ادبې تنقید کښې یو بې رنګه شان یو والے او هم اهنګی راتلل ممکن نه دی. ولې هر څو که دَ دې خبرې دَ اخری تجزیې په صورت کښې مونږ دَ ادبې تنقید دپاره بیا خپل ذوق او محاکمې ته پاتې شُو خو دا یو ډېر لوئے حقیقت دے چې په دې طریقه مونږ دَ خپل ذوق روزنه او تربیت کولے شو او دَ فېصلې قوت دَ یو نظام لاندې راوستے شو. په دې طریقه مونږ دَ ادبی خیرنې دَ مسئلې په سلسله کښې کم از کم یو عملی اُصول بیامومو.

که مونږ دا خواهش لرو چې خپله ادبی مطالعه دَ محفوظ کېدو دپاره او ژوند کښې په کار راتللو دپاره استعمال کړو نو دغه عملی اُصول یقینی طور سره زمونږ رهنمائی کولے شی.

## نُکتې

۱. ذاتی او انفرادی تنقید
۲. دَ لینګ او اناتول فرانس نظریات
۳. د نقادانو اجماع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ قلندر مومند ریسرچ سېل

## لهٔ خوا چاپ شوي کتابونه

- رڼائي دَ قلندر مومند شعري مجموعه
- دَ تاریخ ژړا (تاریخ گوئي) دَ مشتاق مجروح یوسفزي
- میزان دَ قلندر مومند مقالې
- تنقید قلندر مومند

## راروان کتابونه

- دَ قلندر مومند کلیات
- دَ قلندر مومند خطونه
- دَ صاحبزاده فېضي شاعري
- دَ پښتو لغت
- پهٔ قلندر مومند دَ زبېر حسرت دَ پي ایچ ډي مقاله

Pukhto.Net پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دو

# تنقید

ليك
ولیم هنری هډسن

ترجمه
قلندر مومند

Pukhto.Net
پښتو

قلندر مومند
ریسرچ سیل



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**